دا ثابته شوېده چي اريائيان دوه زره او پنځه سوه ( ۲۵۰۰ ) کاله پخوا يو قوم و، چې د ايران او نورو منځنۍ اسيايي سيمو څخه اوسني افغانستان،پاکستان اوهند سيمو ته راغلي وو. دې قوم ځان ته ارين ويل چي د ښو خويونو خاوندان اويا داصيلو وګړو مانا لري .د(اريا) ټکی د سنسکريت ژبې ټکی دی چې مانا يې 《عزت والا》 يا 《مشر》 ده. دوي چې کله د هند ځمکي ته ننوتل نو هغه وخت په هند کې [دراوړ] قوم اباد و، اريايانو دراوړيان د هند د ځني سيمو څخه وويستل او هغه دراوړيان بيا د هند جنوبي سيمو ته لاړل او نن هم د هند په جنوبي سيمو کې دا دراوړيان په بېلابېلو توکمونو کې موجود دي په کومو کې چې تامل،مليالم،کنړا او تيلګو له ټولو لوی توکمونه دي، اريايان د هند په شمالي برخو کې اباد شول، اريايان ښايسته خلک و او علم او فن يي هم لرلو ، د لومړنيو تم ځايونو په اړه يې لا ډاډمن مالومات نشته ، خو دا څرګنده شوېده چي [افغانستان] ته د سير دريا او اموسند له شمالي لوري را تير شوي او په بلخ کي يې د لومړي مدنيت بنسټ ايښی دی .

د لومړنيو اريائيانو په ټولنيز ژوند کي کورنی ډير ارزښت درلود . کورنۍ ته يې (کولا ) ويل چي تر اوسه هم دا نوم په کهول کي ليدل کيږي . دڅو کورنيو څخه يوه قبيله جوړېدله چي د هغې قبيلې رئېس ته يې (پتي) ويل دڅوقبيلوڅخه يو ټبر(قوم)جوړېدئ چي هغه ته يې ( وېسه)اويا ( ګرامه ) ويل.د پاچا د اوسېدلو ځای ته يې ( پور ) وايه چي دا درې نومونه تر اوسه هم په شېر پور ، ويس او بګرام کي ليدل کيږي .

اريا ئيانو بلخ ته تر رسيدلو وړاندي کوچياني ژوند درلود . د هغو څيړنو له مخي چي په ۱۹۳۹ ميلادي کال د سمرقند په تال برزو کي تر سره شوې ، د يوه اريا ئي پاچا انځور ( تصوير ) د يوه خاورين لوښي پر مخ ولېدل شو . د پوهانو په باور دا د اريا ئيانو د لرغوني پاچا ګيومرث انځور دی . په ويدي سرودونو کي هم د کوچيانو همدا پاچاد ګيومرث په نوم ياد شويدی . په ويدي متن کي د پاچا د يادوني څخه دا په ډاګه کيږي چي اريا ئيانو په کوچاني ژوند کي هم د پاچاهی نظام درلود .

اريا ئېانود خپلو اوسېدو سيمو ته (اريانا ويجه )يا ( اريانا ورشو ) ويل . هغه مهال چي اوسنی بلخ يا پخواني بُخِدي ته ورسېدل ، هلته يې ديوه نوي مدنيت بنسټ کښيښود . د بُخدي لرغونی ښار يې د[illegible] اداري [illegible] د[illegible]ونډ[illegible]
ښنګ يې په کرهڼه او ښارالی لاس پورې کړ. د اوسېدو لپاره يې [illegible] کورونه جوړ کړل . ښار يې جوړ کړ او دهغه ښار د ساتني لپاره يې پلن ديوالودنه او لوړ برجونه ودان کړل ، چي زياتي نښاني يې لا تر اوسه پاتي دي .

Ketabton.com

د څلور ګونو ويدي ټولګيو څخه دا په ډاګه کيږي چي اريائيان د پرمختللو او شاعرانه ادبياتو خاوندان وه . ټاکلي ټولنيزمناسبات اوکورنۍ اړيکي يې درلودل .داسي ځانګړي اوډله ايزاخلاقي اصول او مقامونه يې په خپلو کي درلودل چي د خپلو روحاني او مذهبي شخصيتونودرنښت به يې د هغو په پلي کولو سره پر ځای کاوه .

په بُخدي ( بلخ ) کي د اريا ئي وګړو زياتوالي هغوی اړ کړل چي د لويديځ او سهيل ختيځ پر لور په ډله ايزه توګه د ليږد او مهاجرت لړۍ پيل کړي . د لويديځ پر لور لومړی پخواني

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پارس یا اوسني ایران او بیا د او سنی ترکیې او تر هغه وړاندوکرښوهم تیر شول .هغه ډله اریا ئیان چي دسهیل ختیځ پرخوایې مخه وکړه ، هغوی بیا لومړی دلرغوني هندشمالي او بیا مرکزي سیموته ورسېدل**


**سمول**

**په ایران کي د بېستون لرغوني ټولګه د نړیوال کلتوري میراث په لړلیک کي وکښل ( ثبت ) شوه . د بېستون په لرغوني ټولګه کي د نورو اثارو او لرغونو توکو برسیره هغه تاریخي لیکنه چي د بېستون ډبرلیک په نوم نامتو شوئ دئ ، نه یوازې د ایران بلکي د دې سېمي د لرغوني تاریخ لپاره د لومړي لاس اخځ په توګه د ارزښت وړ دئ . همدې ارزښت ته په پام سره مي دا اړینه وګڼل چي د بېستون ډبر لیک په پښتو وژباړم .**

**د دې موخي د پلي کېدو لپاره مي د بېستون ډبرلیک د موندلو هڅي وکړې ، د ډبر لیک انګلیسي او پاړسي متنونه مي پیدا کړ ل او د کار د اسانتیا په هیله مي د ډبرلیک پاړسي متن د ژباړي نیت وکړ ، خو کله چي مي پاړسي او انګلیسي متنونه سره پر تله کړل ، په پاړسي متن کي مي یو شمیر تیروتني او نېمګړتیاوې ولېدلې ، د بیلګي په توګه د پاړسي متن شمېره پر له پسې نه ده لیکل شوې ، په داسي حال کي چي د انګلېسي متن شمیره پر له پسې لیکل شوېده ، په پاړسي متن کي د ډبر لیک یوشمیر کرښي نه دي لیکل شوي او یا د پامه لوېدلي دي ، خو په انګلسي متن کي ټولي کرښي شته . یوه بله نیمګړتیا داوه چي په پاړسي متن کي د یو شمیر هغو سیمو او وګړو نومونه اړول شویدي ، چي د ډبرلیک په متن کي راغلي دي ، خو په انګلیسي متن کي نومونه د ډبر لیک د متن سره برابر دي . دا او په دې ډول نوري لویې او وړې تیروتني مي مخي ته راغلې ، ځکه د پاړسي متن د ژباړ ي څخه وګرځېدم او د یونسکو وړد هریټیج ، ایران چمبر سوسایټي ، سایس اونلاین او یو شمیر نورو انتر نیټ پاڼو څخه مي دبېستون ډبر لیک انګلېسي متن ، د ژباړي لپاره وټاکئ . په دې هیله چي د ځوانو څیرونکو او د لرغوني تاریخ مینه والو لپاره د ګټې وړ وګرځي ، په وړو وړو برخو کي یې دخپرېدو تکل کوم . ( پوهنوال باوري )**

**د ډبرلیک په اړه لنډې څرګندوني**

**سمول**



**د بېستون ډبرلیک د اوسمهال یو انځور .**

**د هخامنشیانو دریم پاچا داریوش د خپلي واکمنۍ پېښ لیک د بېستون په ډبرلیک کي حک او لیکلئ دئ . د دې ډبر لیک اوږدوالی په ټولیزه توګه شل متره او پنځوس سانتي متره او سور یې اوه متره او اتیا سانتي متره ته رسیږي . د لیکنو او انځورونو په تړاو دا ډبر لیک په دریو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخو وېشلئ دئ . تر ټولو زياته برخه يې نه متره او اتيا سانتي متره اوږدوالی لري او سور يې درې متره او دريشپيته سانتي متره ته رسيږي ، چې ٤١٤ څلورسوه څوارلس کرښې ليک لري او دا برخه په يوشمير ايراني خپرونو کي د پخوانئ پارسي ليک په نوم يادېږي . د همدې لوئ ډبرليک ښئ لور ته د انځورونو او ليکنو برخه شته چې د ايلامي ډبرليک په نوم يادېږي . دا برخه پنځه متره او شپېته سانتي متره اوږدوالی لري او سور يې درې متره او اويا سانتي متره ته رسيږي . او د بيستون ډبرليک دريمه برخه کيڼ لورته ليکل شوېده چې اوږدوالي يې پنځه متره او اوه شپيته سانتي متره رسيږي ، او سور يې درې متره او دريشپيته سانتي متره دئ .دا برخه هم په ايراني خپرونو کي د پخوانئ ايراني ليک په نوم يادېږي چې ټوله ٥٩٣ پنځه سوه درينوي کرښې لري . د اکدي يا بابلي ليک په نوم د دې ډبر ليک يوه بله برخه شته چې د ايلامي ليک بر سر ښئ لوري ته ليکل شوېده . دا برخه د ذوزنقې په شکل حک شوېده چې لوړوالي يې څلور متره او سور يې دوه متره او دوه پنځوس سانتي متره دئ ، په داسي حال کي چې د وروستئ برخي سور يې دوه متره او يو ويشت سانتي متره ته رسيږي ، د ډبرليک دا برخه يوسل او دولس کرښې لري . په ټوليزه توګه د دې ډبر ليک ارتوالئ يوسل اوشل متره مربع ته رسيږي .

د ډبرليک بشپړ متن

سمول

لومړی ستون

سمول



د بېستون ډبرليک د لومړي ستون لومړی اته کرښې

پېژندنه: د داريوش لقبونه او د هغه د پاچايئ ارتوالی

سمول

لومړی کرښه : زه داريوش ( DARIUS ) لوی پاچا ، د پاچاهانو پاچا ، د پارس پاچا ، د هېوادونو پاچا ، د هيستاسپس ( HYSTASPES ) ( ) زوی ، د ارسامس ( ARSAMES ) لمسي .

دوهمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ زما پلار هيستاسپس ( HYSTASPES ) ، د هيستاسپس پلار ارسامس ( ARSAMES ) ، د ارسامس پلار اريا رامنی ( ARIARAMNE ) ، د اريا رامنی پلار تېس پيس ( TEISPES ) ، د تېس پيس پلار ( ACHAEMENES ) هخامينش .

دريمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ د دې امله موږ هخامنشي وبلل شو چي د ډير پخوا اصيل يو ، د ډير پخوا زموږ کورنی پاچاهان وه .

څلورمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ ٨( تنه )زموږ له نيکه ګانو څخه پاچاهان وه . زه نهم ( يم ) موږ ٩ ( تنه )يو په بل پسي ( په دوو څانګو کي ) پاچاهان يو .

پنځمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ د اهورامزدا ( AHURAMAZDA ) په غوښتنه زه پاچا يم . اهورامزدا پاچاهي راکړېده .

شپږمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ دا ټوله هغه هېوادنه ( دي ) چي ما ته راغلل او د اهورامزدا په غوښتنه زه د هغوپاچا وم . پارس ( PERSIA ) ، عيلام ( ELAM ) ، بابولونيا ( BABYLONIA ، اسيريا ( ASSYRIA ) ( ، ) اربيا ( ARABIA ) ، مودرای ( EGYPT ) هغه چي سيندونو THOSE ) ته څيرمه دي ( ) ، سارديس ( SARDIS ) ( فنيقيان ) ، اونيا ( IONIA ) ، ( MEDIA ) ميديا

(c) ketabton.com: The Digital Library

درنگیانا ( ، (PARTHIA پارتیا ( ، (CAPPADOCIA کپادوسیا ( ، (ARMENIA، ارمېنیا (
سغدیانا ،) (BACTRIA باختریا ، (CHORASMIA خوارزمیا( (ARIA اریا ( ، (DRANGIANA
( SATTAGYDIA ستاګیدیا ، ( SCYTHIA سا یتیا ( ، ( GANDARA ګندارا( ، (SOGDIANA)
او ټوله دیرویشت هېواده . ( MAKA ماکا ( ( ARACHOSIA اراکوزیا ( ،
اوومه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ دا ( دئ ) هېوادونه چي ماته راغلل . د اهورامزدا په غوښتنه زما مریان شول . ماته یې باج راکړ .او په شپه او ورځ کي هغه کوي چي زما له لوري ورته وویل شي .
اتمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ په دې هېوادونو کي چي څوک مي پلوي وو، هغه ته مي ښه ډالۍ ورکړې او هغه څوک مي پوره وځپئ چي زما پلویتوب یې نه کاوه . د اهورا مزدا په غوښتنه دا هېوادونو زما د قانون درناوئ کوي ، هغسي چي زما له لوري ورته وویل شي هم هغسي کيږي .
نهمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ اهورامزدا ما ته دا پاچاهي وبخښل . اهورامزدا زما مرسته وکړه چي دا پاچاهي لاس ته راوړم ، او د اهورامزدا په مرسته دا پاچاهي لرم .

د سمیردیس وژل او د ګایوماتا او ماګیان کودتا
سمول

لسمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ دا ( دئ ) هغه څه دي چي تر پاچا کېدو وروسته مي تر د کوروش زوئ زما نه مخکي پاچا وو . د ( CAMBYSES سره کړیدي . کمبایسیس ( په نوم دهغه یو ورور وو چي د کمبوجیه پلارنۍ او مورنۍ سکه وو ( SMERDIS سمیردیس( . وروسته کمبوجیه هغه وواژه ، خو خلکو ته مالومه نه شوه چي سمیردیس مړ شویدئ . تر هغه وروسته کمبوجیه د مصر په لور ولاړ ، خلکو سرکښي وکړه ( نافرماني ) وروسته تر هغه په هېواد کي درواغ زیات شول هم په پارس ، هم په ماد او هم په ټولو هېوادونو کي .
( GAUMATA یولسمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛تر هغه وروسته یوتن جادوګر د ګایوماتا( څخه وو ، پاڅون وکړ ، یو غر ( د ) ارکادر (PAISHIYAUVADA په نوم چي دپایسهیاوودا ( په نوم . هغه وخت چي یې پاڅون وکړ وېځن میاشتي څوارلسمه ورځ تیره (ARAKADR( شوې وه . هغه وګړو ته داسي درواغ وویل ( چي ) زه ، سمیردیس د کمبوجیه ورور اود کوروش زوئ یم . وروسته له هغه ټول وګړي د کمبوجیه څخه وګرځېدل او په هغه پسي لاړل هم پارس ، هم ماد ، هم نور هېوادونه . پاچاهي یې ځان ته واخستل . د ګراما پادا ( میاشتي ۹ مه ورځ تیره وه ، هغه وخت یې پاچاهي د ځان کړه . وروسته له ( GARMAPADA هغه کمبو جیه پخپله ومړ .
دولسمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ ګایوماتا جادوګر د کمبوجیه څخه پاچا هي واخستل . هغه ( پاچاهي ) چي د ډېري زماني راهیسي زموږ د کورنۍ وه . ( خو ) وروسته تر دې ګاېوماتا نومي جادوګر د کمبوجیه څخه واخستل . پارس ، ماد او نور ایالتونه د هغه په نوم شول . هغه ټوله ونیول او پاچا شو .

داریوش ګایوماتا وژني او خپل پاچاهي پرځای ساتي
سمول

دیارلسمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ هیڅ څوک نه وو، نه پارسي او نه مادي او نه څوک زموږ له ذاته ( تخم ) څخه وو چي پاچاهي د هغه جادوګر ګایو ماتا څخه ترلاسه کړي . اولس یې پېژندلئ ( SMERDIS ډېر زیات له هغه نه ډاریدئ ، ډېر هغه کسان چي هغه سمیر دیس ( وو هغه یې مړه کړل ، په دې خاطر چي ګویا بیا به مي رسوا کړي ، چي زه سمیر دیس د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوروش زوي نه یم . هیڅ یوه د دې توان نه درلود چي دګاېو ماتا په اړه یو څه و وایې ، تر
څو چي زه راورسېدم . وروسته مي د اهورا مزدا څخه مرسته وغوښته ، اهورا مزدا زما
میاشتي ۱۰ مه ورځ تیره شوې وه ( BAGAYADI سره د مهربانۍ مرسته وکړه . د با ګیادي (
. هغه وخت ما ګاېو ماتا او د هغه څو تنه نږدې مهم مرستندویان ( د هغه ) ووژل . د سیکا
په نوم ( یوتن ) مي هلته (NISAYA د ماد په سیمه کي د نې سیا ( ( SIKAYAUVATI یووتي (
مړ کړ .پا چاهي مي له هغه واخیستل . د اهورامزدا په غوښتنه زه پاچا شوم . اهو را مزدا
پاچاهي ماته راکړه .

څوارلسمه کرښه : داریوش پاچا وایې ؛ هغه پاچاهي چي زموږ څخه اخستل شوې وه ، هغه
مي له سره جوړه کړه . ما هغه ( بیرته ) پرحال کړه .هغسي چي پخوا وه . هغسي ما وکړل .
ما هغه نیاوتونونه ( پرستیشګاه ) چي د ګاېو ماتا جادوګر په امر وران شوي وه ، ورغول
.اولس ته مي رمې او مرئیان چي ګاېو ماتا ترې اخستي وه بیرته ور وګرځول . ما اولس پر
خپل ځای مېشت ( استوار ) کړ . هم پارس ، هم ماد او هم هغه نور هېوادونه ، هغهسي چي
وړاندي وه . هغه څه چي اخیستل شوي ( وه ) بیرته مي ور وګرځول . د اهورا مزدا په
غوښتنه مي دا وکړل . ما هڅه وکړه چي خپله کورنۍ بیا هغه ځای ته ورسوم ، چي پخوا وو .
همداسي مي د اهورامزدا په مرسته وکړل چي بیا ګاېو ماتا زموږ کورنۍ را چاپیر نه کړي .

پنځلسمه کرښه : داریوش پاچا وایې ؛ دا ( دئ ) هغه څه چي تر پاچا کېدو ورسته مي کړیدي
.
د اېلام د ایالت د اسینا او د بابل د نیدېنتوبل بلواګانې
سمول

شپاړسمه کرښه : داریوش پاچا وایې ؛هغه وخت چي مي ګاېوماتا جادوګر مړ کړ ، تر هغه
کي (ELAM زوی په ایلام ( ( UPADARMA په نوم د اوپادارما ( ( ASINA وروسته د اسینا (
پاچا یم . تر هغه وروسته ایلامیان ( ELAM پاڅون وکړ، او وګړو ته یې وویل چي زه د (
واوښتل ( نافرمان ) . د هغه اثینا پلویان شول . هغه په ایلام کي پاچا شو . یو بل تن په بابل
زوی ، هغه په بابل کي ( AINAIRA په نوم د ا ینایرا ( (NIDINTU-BEL کي د نید نیتوبل (
د ( NEBUCHADREZZAR پاڅېدئ . داسي یې وګړي تیر ایستل ( چي ) : زه نیبوچا دیر زار (
زوی یم . وروسته له هغه ټول بابلیان د نید نیتوبل پلویان ( NABONIDUS نابوني دوس (
شول . بابل واوښت ( نافرمان ) هغه په بابل کي پاچاهي خپل کړه .

اوولسمه کرښه : داریوش پاچا وایې ؛ وروسته مي یوه خبرتیا ایلام ته ولیږل . د اسینا (
یې نېولئ ماته راوست او هغه مي و واژه . (ASINA

اتلسمه کرښه : داریوش پاچا وایې ؛ وروسته له هغه زه د بابل پر لور وخوځیدم . د هغه نید
نیتو بل په لور چي ځان یې نیوچادر زار باله . د نید نیتو بل لښکرو دجله په خپل واک کي
درلوده . هلته ودریدئ . د اوبو تل ډیر کښته ( عمیق )وو . وروسته ما خپل لښکر پر ژیو (
مشکها ) او اوښانو سپاره کړل . او د یوشمیر لپاره مي اسونه برابر کړل . اهورا مزدا زما
سره د مرستي مهرباني وکړل او د اهورامزدا په غوښتنه د دجلې څخه تیر شوم . او هلته مي
د میاشتي ۲۶ ورځې (ASIYADIYA د هغه نید نیتوبل لښکري زیاتي وځپلې . د اسیا دیا (
تیري شوي وې .

نولسمه کرښه : داریوش پاچا وایې ؛ وروسته له هغه زه د بابل پر لور روان شوم . لا بابل
په نوم هغه ښارچي د فرات پر څنډو پروت دي ، ( ZAZANA ته نه وم رسېدلې چي د زازانا (

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه نید نیتوبل چي ځان يې نيبوچا دير زار باله د خپلو لښکرو سره زما په وړاندي د جګړې ډګر ته راغئ . ورسته مي ( دهغه سره ) جګړه وکړه . اهورا مزدا زما سره د مرستي مهرباني وکړه . د اهورامزدا په غوښتنه ما د نید نیتوبل لښکري زیاتي وځپلي . او پاته په میاشتي ۲ ورځي تيري وې چي ( ANAMAKA اوبو کي ولوېدې . اوبو هغه يوړول . د انامکا ( جګړه مي وکړه .

دوهم ستون

سمول

شلمه کرښه : داریوش پاچا وايي ؛ وروسته له هغه نید نیتوبل د څو تنو سپرو سره وتښتېدئ او د بابل پر لور ولاړ . وروسته له هغه زه د بابل پر لور وخوځېدم . د اهو را مزدا په غوښتنه مي بابل هم ونیوئ . او هم مي نید نیتوبل را ټینګ کړ . وروسته ( مي ) نید نیتوبل په بابل کي مړ کړ .

یوویشتمه کرښه : داریوش پاچا وايي ؛ هغه وخت چي په بابل کي وم ، دا ( هغه ) هېوادونه اشور( ، ( MEDIA ماد ( ، ( ELAM ايلام ( ، ( PERSIA چي زما څخه سرکښه شول . پارس ( ستاکېدیا ( ، ( MARGIANA مرګیانا( ، ( PARTHIA پارت ( ، ( EGYPT مصر ( ، ( ASSYRIA SATTAGYDIA ( ، ( SCYTHIA ساپتیا ( . (

د اېلام د مارتیا بلوا

سمول

په نوم د ثین ثي خري ( MARTIYA دوه ويشتمه کرښه : داریوش پاچا وايي ؛ د مارتیا ( نومیږي اوسېدئ ( KUGANAKA زوی د پارس په یوه ښار کي چي کوګاناکا ( ( CINCIKHRI( د ایلام پاچا ( IMANISH. او د ايلام څخه را وپاڅېدئ . او وګړو ته يې وويل چي زه ایمانش ( یم .

درویشتمه کرښه : داریوش پاچا وايي ؛ هغه وخت زه ایلام ته نږدې ووم . وروسته له هغه ایلامیان زما څخه وډارشوه . مارتیا چي د هغوی لارښود وو ، را چاپیره کړ او هغه يې وواژه .

د ماد د فرورتېس بلوا

سمول

( PHRAORTES څلور ويشتمه کرښه : داریوش پاچا وايي ؛ د ماد اوسېدونکئ فرورتېس ( KHSHATHRITA نومئ په ماد کي ښورښ وکړ . داسي يې وګړو ته وويل چي زه خشهاترایت ( له ذاته یم . ورسته يي د ماد لښکر چي د هغه په قصر کي ( وه ( CYAXARES د ثاکساریس ( ( ) زما نه يې سرکښي وکړل او د هغه فرورتېس په لوري ولاړل . او هغه په ماد کي پاچا شو .

پنځه ويشتمه کرښه : داریوش پاچا وايي ؛ زما تر امر لاندي پارسي او مادي ځواک لږ وو . په نوم زما يوتن مرئې وو هغه مي د ( HYDARNES وروسته مي لښکر ولیږه . د هیدارنېس ( لښکر سالار وټاکئ . داسي مي هغه ته وويل : ( چي ) هلته ولاړ شئ هغه مادي لښکر چي خپل ځان زما ( تابع ) نه ګڼي هغه وځپئ . ورسته له هغه وهېدارنيس د لښکر سره ولاړ ، چي په نوم د ماد ښار يوه اوسېدونکي د مادیانو سره جګړه ( MARU ماد ته ورسېدئ د مارو ( وکړه هغه چي د مادیانو مشر وو . هغه وخت هلته نه وو ، او اهورامزدا زما مرسته وکړه ، د اهورامزدا په غوستنه زما لښکر هغه سرکښه جګړه ماران زیات وځپل . د انا مکا ( میاشتي ۲۷ مه ورځ تیره وه . هغه وخت چي جګړ ه پیل شوه . ورسته له هغه ( ANAMAKA

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ماد کي د کمپاندا ( KAMPANDA ) په نوم سیمه ما ته پاته شوه تر څو چي زه ماد ته ورغلم .

## د ارمنیانو بلوا

## سمول

شپږ ویشتمه کرښه : داریوش پاچا وائي ؛ زما یومرئي د دادارشي ( DADARSHI ) په نوم چي ارمن وو ، هغه مي ارمنستان ته ولیږئ . هغه ته مي وویل : مخ ته ولاړ شه او هغه سرکښه لښکري چي ځان زما ( تابع ) نه ګڼي وځپه . وروسته دادارشي وخوځیدئ . چي ارمنستان ته ورسېدئ ، ټوله هغه سرکښان سره راټول شوه او د دادارشي پر ضد یې جګړه پېل کړه . د زوزاهیا ( ZUZAHYA ) په نوم د ارمنستان یوه وګړي جګړه وکړه . اهورامزدا زما مرسته وکړه . د اهورامزدا په غوښتنه زما لښکرو هغه سرکښان ډیر وځپل . د تیورا واهرا ( THURAVAHARA ) میاشتي ۸ مه ورځ تیره وه ، چي دا جګړه وشوه .

اوه وېشتمه کرښه : داریوش پاچا وائي ؛ بیا دوهم ځل سرکښه کسان سره راټول شوه او د دادارشي په وړاندي ئې جګړه پیل کړه . د ارمنستان یوه تن د تېګر ا ( TIGRA ) په نوم دا جګړه وکړه . اهورامزدا زما مرسته وکړه . د اهو رامزدا په غوښتنه زما لښکرو هغه سرکښه کسان ډیر وځپل . د تیوراواهرا د میاشتي ۱۸ مه ورځ تیره وه ، هغه وخت جګړه پېل شوه .

اته ویشتمه کرښه : داریوش پاچا وائي ؛ د دریم ځل لپاره سرکښه کسان سره راټول شوه او د دادارشي په وړاندي ئې جګړه پیل کړه . دارمنستان یوه تن د دژي اویاما ( UYAMA ) په نوم جګړه وګړه . اهورامزدا زما مرسته وکړه . زما لښکرو د اهورامزدا په غوښتنه هغه سرکښه کسان ډیر وځپل . د تا ېګارسي ( THAIGARCI ) میاشتي ۹ مه ورځ تیره وه چي دا جګړه پېل شوه . وروسته دادارشي زما په غوښتنه په ارمنستان کي پاته شو ، تر هغه چي زه ورسېدم .

نه ویشتمه کرښه ؛ داریوش پاچا وائي ؛ وروسته مي د وایمیسا ( VAUMISA, ) په نوم پارسي مرئي ارمنستان ته ولیږئ او هغه ته مي وویل : وړاندي ولاړ شه او هغه سرکښه کسان چي خپل ځان زما ( تابع ) نه ګڼي هغه وځپه . وروسته وایمیسا وخوځېدئ . چي ارمنستان ته ورسېدئ ( هلته ) ټوله سرکښان راټول شوه او جګړه ئي د وایمیسا په وړاندي پیل کړه . یوه سیمه چي ایزلا ( IZALA ) نومیږي او د اشور اړوند ده ، جګړه پیل شوه . اهورامزدا زما سره مرسته وکړه . د اهورامزدا په غوښتنه زما لښکرو هغه سرکښه کسان ډیر وځپل . د انا مکا ۱۵ مه ورځ تیره وه ، چي دا جګړه وشوه .

دیرشمه کرښه : داریوش پاچا وائي ؛ بیا دوهم ځل سرکښان راټول شوه او د وایمیسا په وړاندي ئې جګړه پیل کړه . د او تي یارا ( AUTIYARA ) په نوم په ارمنستان کي جګړه پیل کړه . اهورامزدا زما مرسته وکړه . د اهو را مزدا په غوښتنه زما لښکرو هغه سرکښه کسان ډیر وځپل . دتیوراواهرا تن ( THURAVAHARÂTHEN ) نږدي ورستئ ورځي وې چي جګړه پېل شوه . . وروسته له هغه وایمیسا زما لپاره په ارمنستان کي پاته شو ، څو چي زه ورسېدم .

## د مادیانو د بلوا پای

## سمول

یودېرشمه کرښه : داریوش پاچا وائي ؛ وروسته له هغه زه د بابل ( BABYLON ) څخه را ووتم . د ماد ( MEDIA ) پر لور وخوځېدم، چي ماد ته ورسېدم دهغه ښار یو اوسېدونکئ د کوندورو ( KUNDURU ) په نوم ، په هغه سیمه کي چي فراورتیس ( PHRAORTES ) ځان د ماد پاچا باله ، د خپلو لښکرو سره زما په وړاندي د جګړې په نیت راغئ . د هغه سره مي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړه وکړه . اهو را مزدا زما سره مرسته وکړه . د اهو را مزدا په غوښتنه هغه فراورتیس ( ۲۵ ورځي تیري شوي وې ، چي جګړه ( ADUKANAISHAمي ډیر وځپئ . د ادوکانا ئیشه وشوه .
د خپل یو ( PHRAORTESدوه دیرشمه کرښه : داریوش پاچا وائي ؛ وروسته ، فراورتیس ( په نوم سیمه د سوروانه شول . ( RAGAشمیر سپورو سره وتښتېدئ . په ماد کي د راګا ( وروسته مي د هغه په تعقیب لښکر ولیږه . فرورتیش ونیول شو او ما ته راوستل شو . ما هم د هغه پوزه او هم دوه غوږونه پرېکړل او ژبه مي ور غوڅه کړل ، او یوه سترګه مي ور ړنده د یوه برج په دننه کي په دار وځړاوه . ( ECBATANAکړل . او وروسته تر هغه مي دایکبتانا( او د هغه پلویان ولیدئ .
د ثیسانتخما ( SAGARTIANدري دیرشمه کرښه : داریوش پاچا وائي ؛ یو تن سګارتي ( په نوم زما ( امر ) نه سر وغړاوه . داسي یې خلکو ته وویل چي : زه د ( CISANTAKHMA( له ذاته یم . وروسته مي تخمس پادا ( CYAXARESسګارتي پاچایم ،او د ثایکسا ریس ( په نوم زما یوه تن مرئې د پارسي او مادي لښکر لاربښود وټاکئ او ( TAKHMASPADA( هغوئ ته مي وویل : مخ ته ولاړ شئ هغه سرکښه کسان چي ځان ز ما ( تابع ) نه ګڼي وځپئ . وروسته تخمیس پادا د لښکرو سره هغه لوري ته وخوځېدئ . د چي ثیسا نتخما سره یې جګړه وکړه . اهورا مزدا زما سره مرسته وکړه . د اهورامزدا په غوښتنه زمالښکرو هغه سرکښان وځپل او چي ثیسانتخما یې ونیوئ . ماته یې راوست . وروسته مي د هغه پوزه دوه غوږونه ور غوڅ کړه او یوه سترګه مي ور ړنده کړه . زما د مانئ سره مي تړلئ وساتئ ټولو کي په دار وځړاوه . ( ARBELAخلکو هغه ولیدئ او وروسته مي هغه په اربیلا ( څلور دیرشمه کرښه : داریوش پاچا وائي ؛ دا هغه دي چي په ماد کي مي تر سره کړل .

د پارتیانو بلوا
سمول

( HYRCANIA او هایر ثانیا( ( PARTHIAپنځه دیرشمه کرښه : داریوش پاچا وائي ؛پارتیا ( وبلل . زما پلار ( PHRAORTESزما څخه وګرځېدل ( نافرمانه شول )ځانونه یې د فراورتیس ( چي په پارت کي وو ، د هغه نه وګر ي وګرځېدل او سرکښه ( HYSTASPESهایستاسپس( شول . وروسته هایستاسپس د خپلو ملګروځواکونو سره وخوځېدئ . د ویشپاوزاتي ( په نوم ښار کي یې د پارتیانو سره جګړه وکړه . اهورامزدا زما سره ( ,VISHPAUZATI هغه سرکښان ډیر ( HYSTASPESمرسته وکړه . د اهورامزدا په غوښتنه ، هایستاسپس( میاشتي ۲۲ ورځ تیره شوې وه ، چي دا جګړه وشوه . ( VIYAKHNAوځپل . دا د ویاخنا (

درېیم ستون
سمول

( RAGAشپږدیرشمه کرښه : داریوش پاچا وایې ؛ وروسته مي یوشمېر پارسي لښکر د راګا ( څخه دهایستاسپس مرستي ته ولیږل ، چي لښکر هایستاسپس ته ورسېدل ، وروسته ( کي د ( PARTHIAهایستاسپس هغه لښکر د ځان سره ( مل ) کړه ،او وخوځېدئ . په پارتیا ( په نوم ښار کي یې د ښورښیانو سره جګړه وکړه . اهورامزدا ( PATIGRABANAپتي ګرابا نا ( زما سره مرسته وکړه . د اهورامزدا په غوښتنه ، ویشتاسپ هغه ټوله سرکښان ډیر وځپل . د لومړۍ ورځ تیره وه چي دهغوئ ترمنځ دا جګړ ه پیل شوه . ( GARMAPADAګارما پادا( اوه دیرشمه کرښه : داریوش پاچا وایې ؛ تر هغه وروسته هېواد زما شو . دا ( دي ) هغه دي چي زما په وسیله په پارتیا کي تر سره شویدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مارګینا د فرادا بلوا
سمول
په نوم ( MARGIANA اته دیرشمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ یو ایالت چي د مارګیانا (
په نوم یو تن د مارګیانا اوسېدونکو خپل مشر ( FRADA یادیږي ، ښورښ وکړ . د فرادا (
( BACTRIA په نوم زما پارسي مرئي و باکتریا ( ( DADARSHI وټاکئ . وروسته مي دادارشي (
ته ولیږئ ، او هغه ته مي وویل چي مخ ته ولاړ شه او هغه ځواکونه چي ځان زما ( تابع ) نه
ګڼي وځپه . وروسته دادارشي د لښکرو سره هغه لور ته وخوځېدئ . د مارګیا نیانو سره یې
جګړه وګړه . اهورا مزدا زما مرسته وکړه . د اهورامزدا په غوښتنه زما لښکرو ټوله
۲۵ مه ورځ تیره وه ، هغه وخت چي دا ( ASIYADIYA سرکښان ډیر وځپل . د اسي یادیا (
جګړه پیل شوه .
نه دیرشمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ وروسته له هغه هېواد زما شو . دا ( دي ) چي زما
په وسیله په باکتریا کي تر سره شویدي .
د پارس د واهیازداتا بلوا
سمول
په نوم یوتن په ( VAHYAZDATA څلوېښتمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ د واهیازداتا (
سیمه کي میشت وو . ( YAUTIYA نومي ښار کي چي د پارس په یاویتیا ( ( TARAVA تاراوا (
SMERDIS هغه د دوهم ځل لپاره ښورښ وکړ . داسي یې وګړو ته وویل چي : زه سمیردېس (
( ANSHAN د کوروش زوئ یم . وروسته هغه پارسي ځواکونو چي مانئ ته پخوا د انشان ( (
څخه راغلي وه زما په وړاندي یې ښورښ وکړ . او د هغه واهیازداتا لوري ته واوښتل او (
هغه ) په پارس کي پاچا شو .
یوڅلوېښتمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ وروسته مي هغه پارسي او مادي لښکر چي زما تر
په نوم زما یو پارسي مریې مي د ( ARTAVARDIYA امر لاندي وه ، ولیږلې . د ارتا واردیا (
لښکرو مشر کړ . یوبل پارسي لښکر مي په ځان پسې د ماد پر لور وخوځاوه . وروسته ارتا
واردیا د لښکرو سره د پارس پر لور وخوځېدئ . چي پارس ته ورسېدئ ، وهیازداتا
جوړ کړئ وو د پارس په ( SMERDIS چي ځان یې سمیردیس ( ( VAHYAZDATA (
نومي ښار کي د ارتا واردیاپه وړاندي جګړې ته راووت . ورسته له هغه یې ( RAKHA رخا (
جګړه وکړه . اهورامزدا زما سره مرسته وکړه . د اهورامزدا په غوښتنه زما لښکرو هغه د و
میاشتي ۱۲ مه ورځ ( THURAVAHARA هیازداتا ځواکونه ټوله ډیر وځپل . د تورا واهارا (
تیره شوې وه چي جګړه پیل شوه .
دوه څلویښتمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ وروسته له هغه ، هغه وهیازداتا د یو لږ شمیر
لوري ته وخوځېدئ . د هغه ځایه ( PAISHIYAUVADA سپرلیو سره وتښتېدئ . د پاشیایوادا (
څخه یې لښکر راټول کړ . او تر هغه وروسته یې د ارتا واردیا سره جګړه پیل کړه . د پارګا
په نوم غره سره یې جګړه پیل ګړه . اهو را مزدا زما مرسته وکړه . د ( PARGA - (
اهورامزدا په غوښتنه زما لښکر د وهیازداتا ځواکونه زیات وځپل . د ګارما پادا (
د میاشتي۵ مه ورځ تیره وه چي دا جګړه ونښته او وهیازداتا یې ونیوئ او ( GARMAPADA
د هغه نږدې ټول ملګري یې هم ونیول .
در ې څلوېښتمه کرښه : داریوش پاچا وایي؛ وروسته له هغه وهیازداتا او د هغه نور میرني
په نوم ښار کي مي په دار ( UVADAICAYA چي زیات ورته نږدې وه د پارس په یوواداېڅایا (
وځړول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورڅلويښتمه كرښه : داريوش پاچا وايي ؛ دا ( دي ) هغه چي په پارس كي زما په وسيله تر سره شول .
پنځه څلويښتمه كرښه : داريوش پاچا وايي ؛ هغه وهيازداتا چي خپل ځان يې سميردي باله ، ته ليږلي وه .د هغه پر ضد مي زما يو مرئي د (ARACHOSIA هغه لښكر ( و ) اراكوزيا( په نوم چي ما د اراكوزيا او . . . ښار او د هغو مشر ټاكلي وو . هغوئ ته (VIVANA وېوانا ( يي وويلي وه چي : وړاندي ولاړ شئ وېوانا او د هغه لښكر چي ځان د داريوش پاچا ( تابع ) ګڼي ، وځپئ . وروسته له هغه د هيازداتا ليږل شوي لښكر د وېوانا په وړاندي د جګړې لپاره نومي سړي هلته جګړه وكړه . اهورا مزدا (KAPISHAKANI و خوځېدل . دژي كاپيشا كاني ( زما مرسته وكړه . د اهورامزدا په غوښتنه زما لښكر هغه سركښان ډير وځپل . د اناماكا ۱۳ مه ورځ تيره شوې وه ، چي دا جګړه پيل شوه . (ANAMAKA(
شپږ څلويښتمه كرښه : داريوش پاچا وايي ؛ تر هغه وروسته بيا ښورښيان سره يوځای شول په نوم سيمه كي يې (GANDUTAVA او د وېوانا په وړاندي يې جګړه پيل كړه د ګندوتاوا( جګړه وكړه . اهو را مزدا زما مرسته وكړه . د اهو را مزدا په غوښتنه زما لښكر د هغه مياشتي ۷ مه ورځ تيره شوې وه ، چي (VIYAKHNA ښورښيانو لښكر ډير وځپئ .دو ياخنا ( دا جګړه پيل شوه .
اوه څلويښتمه كرښه : داريوش پاچا وايي ؛ وروسته ، هغه تن چي د لښكرو مشر ټاكل شوئ وو او وهيازداتا د وېوانا پر ضد ليږلئ وو ، هغه د يو څو تنو سپرلو سره وتښتېدئ او لاره يې نومي سيمي تر څنګ تير شو . وروسته له (ARSHADA واخستل . په اراكوزيا كي د ارشادا ( هغه وېوانا د خپل لښكر سره د هغه ځار وخوځېدئ . هلته يې د هغه ټول نږدې ملاتړي ونيول او مړه يې كړل .
اته څلويښتمه كرښه : داريوش پاچا وايي ؛ وروسته له هغه هېواد زما شو . دا ( دي ) هغه چي په اراكوزيا كي زما په وسيله تر سره شول .

ارخا، د بابليانو دوهمه بلوا

سمول

نه څلويښتمه كرښه : داريوش پاچا وايي ؛ هغه وخت چي په پارس كي وم ، دوهم ځل بيا زوئ (HALDITA په نوم چي د هالديتا ( (ARKHA بابليانو ښورښ وكړ . يوتن ارمني د ارخا ( په نوم سيمه كي يې درواغ وګړو ته (DUBALA وو ، په بابل كي ښورښ پيل كړ . د دوبال ( زوئ يم . NABONIDUS د نابونيدوس ( (NEBUCHADREZZAR ويل چي زه نبو چادر يزار ( وروسته له هغه بابليانو زما له امره سركښي پيل كړه ، او د هغه لوري ته ولاړل . هغه بابل ونيوئ او په بابل كي پاچا شو .
پنځوسمه كرښه : داريوش پاچا وايي ؛ وروسته له هغه مي لښكر بابل ته وليږل . د اېنتا په نوم زما يو پارسي مرئ مي د لښكرو مشر وټاكئ .او هغه ته (INTAPHERNES فيرنيس ( مي داسي وويل چي : وړاندي ولاړ شئ او هغه بابلي لښكر چي خپل ځان زما ( تابع ) نه بولي وځپئ . وروسته له هغه انتا فيرنيس د بابل په لور وخوځېدئ . اهورا مزدا زما مرسته وكړه . د اهورامزدا په غوښتنه ، انتا فيرنيس بابليان وځپل او بنديان يې راوستل . د وركزن ۲۲ ورځي تيري شوي وي ، هغه وخت ارخا چي په درواغو يې ځان نبو (VARKAZANA( چادر يزار باله او هغه كسان چي نږدې پلويان يې وه ، ونيول . امر مي وكړ او ارخا او د هغه سړي او نږدې ملګري يې په بابل كي په دار وځړول شول .

څلورم ستون

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمول
یوپنځوسمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ دا ( دي ) هغه چي په بابل کي زما په وسیله تر سره
شول .
دوه پنځوسمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ دا ( دي ) هغه چي د اهورامزدا په غوښتنه مي د
تېر یوه کال په ترځ کي وروسته له هغه چي پاچا شوم ، تر سره کړل . ۱۹ جګړې مي وکړې .
د اهورامزدا په غوښتنه مي هغوئ وځپل . او ۹ تنه پاچاهان مي ونیول . یو ګایوماتا
د کوروش ( SMERDIS جادوګر وو . او دروواغ یې ویل چي زه سمیردیس ( ( GAUMATA(
په نوم د ایلام ( ASINA زوئ یم او په پارس کي یې ښورښ جوړ کړئ وو . یو د اسینا (
اوسېدونکئ وو . هغه درواغ ویل چي زه په ایلام کي پاچا یم او هغه په ایلام کي زما په
بابلي وو . هغه درواغ ( NIDINTU-BEL وړاندي وګړي سرکښه کړ ل . یو بل تن نیدینتو بیل (
زوئ یم ( NABONIDUS نیبوچادریزار د نبونیدوس ( ( ,NEBUCHADREZZAR ویل چي زه (
په نوم د پارس وو ( MARTIYA او په بابل کي یې زما په وړاندي ښورښ وکړ . یوهم مارتیا (
د ایلام پاچا یم اوپه ایلام کي یې زما په ( IMANISH او هغه درواغ ویل چي زه ایمانش (
نومئ وو . هغه درواغ ویل چي : ( PHRAORTES وړاندي ښورښ وکړ . یو د ماد فراورتیس (
د کورنئ څخه یم او ماد یې ( CYAXARES د کیا کساریس ( ( KHSHATHRITA زه خشا تریتا (
CISANTAKHMA ثپسانتا خما ( ( SAGARTIAN زما له امره وه ایست . یود سا ګارتیان (
له کورنۍ څخه یم او د ( CYAXARES نومئ وو ، او درواغ یې ویل چي زه د کیا کساریس (
MARGIAN سا ګارتیا پاچا یم ، او ساګارتیا یې تر واک لاندي کړه . یو فرادا مارګیاني (
وو . درواغ یې ویل چي : زه د مرو پاچا یم . او مرو یې تر واک لاندي کړه . یو FRADA
نومئ د پارس وو . درواغ یې ویل چي : زه سمیر دیس ( ,VAHYAZDATA وهیازداتا (
( ARKHA د کوروش زوئ یم . او پارس یې په ښورښ راوست . یو ارخا ( ( SMERDIS(
زوئ یم . ( NEBUCHADREZZAR نومئ ارمني وو . درواغ یې ویل چي : زه نیبوچادریزار (
او با بل یې زما د فرمانه وه ایست .
درېپنځوسمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ دا ۹ تنه پاچا هان مي په دې جګړو کي ونیول .
څلورپنځوسمه کرښه : داریوش پاچا وایي : دا ( دئ ) هیوادونه سرکښه شول . درواغو
هغوئ نافرمانه کړل ، چي هغوئ وګړو ته درواغ و ویل . وروسته اهورامزدا هغه زما په واک
کي راکړل . هر ډول چي مي هیله وه هغه ډول مي له هغوئ سره وکړل .
پنځه پنځوسمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ ته چي له دې وروسته ښایي پاچا شې ځان په
زیاتي پیاوړتیا له درواغو څخه لیري وساته . که چیري داسي فکر وکړې چي هېواد دې
وساتل شي ، هغه کسان چي درواغ وایي هغوئ ته کلکه جزا ورکړه .
ددې لیکنې د رښتینوالۍ پخلی
سمول
شپږ پنځوسمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ دا ( دي ) هغه څه چي ما کړیدي . د اهورامزدا په
غوښتنه مي په هغه یوه کال تر سره کړل . ته چي تر دې وروسته دا لیکنه ښایي ولولې ، هغه
څه چي زما په وسیله تر سره شویدي ، ستا باور پرې وشي ، نه ښایي چي دا درواغ وګڼې .
اوه پنځوسمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ اهورا مزدا خپل ( حاضر او حضور ) شاهد ګڼم ،
هغه چي مي په یوه کال کي تر سره کړیدي رښتیا دي ، نه درواغ .
اته پنځوسمه کرښه : داریوش پاچا وایي ؛ د اهورا مزدا په غوښتنه ما زیات کارونه کړیدي ،
او له همدې کبله دا لیکنه و لیکل شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ليکنې د سپېڅلتيا او د خپرولو پخلی
سمول

نه پنځوسمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ د پخوانيو پاچاهانو داسې کړني نشته چې ما د اهورامزدا په غوښتنه په يوه کال کي تر سره کړيدي .

شپېتمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛اوس په هغه څه چې زما په وسيله تر سره شويدي ، ستاسو باور پرې وشي .او همدا ډول وګړو ته و واياست .مه يې پټوئ . که دا خبره پټه نه کړئ او وخلکو ته وواياست ، ( نو ) اهورا مزدا دې ستاسو دوست وي ، ستاسو کورنئ دې زياته ، او ژوند مو ډير اوسه .

يوشپيتمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ که دا وينا د خلکو پټه کړئ ، او وګړو ته ونه واياست ، اهورامزدا دې ستاسو دښمن وي او ستاسو کورنئ دې ورکه ( محوه ) وي .

دوه شپيتمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ دا ( دئ ) هغه څه چي ما تر سره کړيدي . په هغه يوه کال کي د اهورامزدا په غوښتنه مې تر سره کړيدي .اهو را مزدا زما مرسته کړيده ، او هم هغه نورو خدايانو ، چي شته .

د رښتينولۍ او راستۍ اهميت
سمول

درې شپيتمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ د دې لپاره اهورامزدا او نورو هغه خدايانو چي شته زما سره مرسته کړېده چي ، کرغيړن نه وم ، درواغجن نه وم ، تبا ه کوونکئ نه وم ، نه زه او نه زما کورنئ . رښتنئ وم ، نه مي د خوار او نه د زورور سره زور وهلئ دئ .هغه چا چي زما د کورنئ سره ملتيا کړيده ، هغه مي نازولئ دي . او هغه چي زيان يې راته اړولئ هغه ته مي کلکه جزا ورکړېده .

څلور شپيتمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ ته چي ښايې تر دې وروسته پاچا يې ،هغه څوک چي درواغجن وي او يا هغه چي تبا ه کونکئ وي د هغه دوست مه اوسه . په کلکه هغه ته جزا ورکړه .

د نېکمرغۍ او بدمرغۍ دعاګانې
سمول

پنځه شپيتمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ ته چي تر دې وروسته دا ليکنه چي ما ليکلي او يا دا څيرې چي ته ويني ، داسې نه چي وراني يې کړې . تر هغو چي توان لرې ، وه اي ساته .

شپږ شپيتمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ که دا ليکنه او دا انځورونه و وينې ( او ) وراني يې نه کړې ، تر هغه چي توان ولرې ، ويې ساتې ، اهورامزدا دې ستا دوست وي او کورنۍ دې زياته او ژوند دې ډير اوسه ، او هغه څه چي کوې هغه دې اهورامزدا در لره ښه کړي .

اوه شپيتمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ که دا ليکنه او انځورونه ووينې ( او ) وران يې کړې تر څو چي توان دې شته ويې نه ساتې ، اهورا مزدا دې تا وځپي . او ستادې کورنئ ورکه وي . او هغه څه چي کوې اهورا مزدا دې هغه وران کړي .

اته شپيتمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ دا ( دي ) هغه کسان چي د جادوګرګايوماتا (GAUMATA ) چي ځان يې سميردي باله ، د( هغه ) وژلو پر مهال هلته وه .په هغه وخت د پارسي واياسپارا ( INTAPHERNES هغوئ مرسته وکړه . زما پلويان ( وه ) اينتا پاير نيس ( زوئ ، ( VAYASPARA ) ( THUKHRA نومئ د پارسي توخرا ((OTANES زوئ ، اوتانيس ( زوی ، هيدارنيس ( MARDONIUS نومئ د پارسي ماردونيوس ( ( GOBRYAS ګئو برویاس ( زوئ ، ميګابيازوس ( BAGABIGNA نومئ د پارسي بګا بيګنا ( ( HYDARNES(

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوی ، اردومانش ( DATUVAHYA, نومئ د پارسي داتوواهيا ( (MEGABYZUS)
زوئ . ( VAHAUKA نومئ د پارسي واهاوکا ( ( ARDUMANISH)
نه شپيتمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ ته چي له دې وروسته ښايې پاچي یې ، د دې کسانو د کورنيو ښه ساتنه وکړه .
اويا يمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ د اهورامزدا په غوښتنه مي دا ليکنه په بل ډول هم ( ژبي )برسيره مي هم پر دړو ( لوح ) او هم پر پوستکو ترتيب ( ARYAN وکړه ، پر ارينې ( کړه . دا ليکنه د مهر په وسيله ومنل ( تائيد ) شوه . زما په وړاندي نوشته او هم ولوستل شوه . وروسته تر هغه مي دا ليکنه ټولو ځايونو او هېوادونو ته وليږل او خلکو یې هرکلئ وکړ .

## پينځم ستون

سمول

### د اېلام د ايالت يوه نوې بلوا (منی 521)

سمول

يو اويا يمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ دا هغه څه دي چي ما د خپل پاچا کېدلو وروسته په نوميږي ، بيا ياغي شو . ( ELAM دوهم او دريم کال کي تر سره کړيدي . يو ايالت چي ايلام ( نومېدئ په ايلام کي ... د هغو مشرشو . بيله ځنده مي خپل ( ATAMAITA يو تن چي اتا مېتا ( نومېدئ د ( GOBRYAS څلورم پوځ ( هلته ) وليږئ .زما يو پارسي مر ئې چي گو بر ياس ( هغه لښکر مشر وټا کئ . او گو بر ياس د ايلام پر لوري وخوځېدئ ، د ايلاميانو سره یې مقابله پيل کړه . گو بر ياس بيله ځنده ايلاميان وځپل او د هغو مشر یې ونيوئ . هغه یې ماته راوست او ما هغه و واژه ، وروسته له هغه ايالت زما شو .
دوه اويا يمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ ايلاميان ډير بې وفا دي . اهو را مزدا د هغوئ مرسته ونه کړه . اهو را مزدا زما مرستندوئ شو . او د اهو را مزدا په غوښتنه زه بر يالئ شوم او هغوئ مي له منځه يوړل .
درې اويا يمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ دا د اهو را مزدا مهرباني او لويه مرسته ده چي چا ته ژوند ورکړي اويا څوک مړ کړي .

### د سايتيانو پر ضد جگړه (519/520)

سمول

څلور اويا يمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ له هغه جگړې ورو سته د خپل پوځ سره سايتيا ته ولاړم . هلته سا يتيا را ته سر کښېښود ( تسليم شول ) . سايتيا ئيان زما ( SCYTHIA( سره شول او زه بحيرې ته ورسېدم . او هغه بل خوا ټوله زما دپوځ په وړاندي ودريدل ، وروسته مي جگړه ( ور سره ) وکړه او هغوئ مي ډير وځپل . او د هغوئ نور ( مشران ) هم . ما هغوئ ونيول او بنديان مي کړل او هغوئ چي زما مخه یې نيول ،و مي وژل . د هغوئ مي ډير وځپئ . او بيا مي هغوئ ته بل مشر وټاکئ . وروسته ( SKUNKHA مشر سکونخا ( تر هغه دا ايالت زما شو .
پنځه اويا يمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ سايتيا ئيان مي وځپل او اهو را مزدا زما مرسته وکړه او د اهو را مزدا غوښتنه او مهرباني وه چي هغه ټوله مي له مېنځه يوړل .
شپږ اويا يمه کرښه : داريوش پاچا وايي ؛ دا د اهو را مزدا مهرباني او لويه مرسته ده چي چا ته ژوند ورکړي اويا څوک مړ کړي .

## د ژباړونکي يادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمول

لکه چي په پيلامه کي مي څو اړينوټکو ته د درنو لوستونکو د پام اړولو په نيت څو کرښي ليکلي وې ، دادئ د دې ژباړي په ورستئ برخه کي هم د دريو اړينو ټکو يادولو ته ستاسو درنو لوستونکو پام اړول غواړم :

لومړئ : هڅه مي وکړل چي د بېستون کتبي بيلا بيلي نسخي ( د فارسي او انګليسي بيلا بيلي نسخي ) د ژباړئ پر مهال په پام کي ونيسم او د بشپړېدو لپاره يې هڅي پر له پسي وساتم . چي له نېکه مرغه دادئ د بېستون کتيبي د هغو نسخو څخه چي تر اوسه مي لوستلي او ليدلي دي ، د هغو په بشپړه ژباړه بر يالئ شوم .

دوهم : هڅه مي وکړل چي د سيمو او کسانو د نومونو سره يوځای د هغو نومونه په انګليسي رسم الخط هم وليکم ، چي د لوستلواوپيژندلو پر مهال دتير وتنو مخه ونيول شي .

دريم : دا ورستئ برخه چي تاسو درانه لوستونکي يې لولئ ، د بېستون په فارسي متونو کي نه ده راغلې ، بناي دپامه به لويدلي وي او يابه يې په فارسي متن کي د زياتولو اړتيا نه وي ليدل شوې .خو هغه يوه نيمګړتيا چي په انګليسي متن کي شته هغه په همدې ورستئ برخه کي درې اويايمه او شپږ اويا يمه کرښه په يو ډول ليکل شوېده چي بناې بيا ( تکرار ) ليکل شوې وي .

د دې ژباړي په پای کي د دې ټکي يادول هم اړين ګڼم چي ، که بناعلي لوستونکي د دې کتيبي د ژباړي په اړه کومه نېوکه ، نظر او يا وړانديز لري او يا يې تر دې لا بشپړ متن په واک کي لري ، زما سره د همدې پاڼي د اړيکو له لاري ، را بطه وکړي ، ډېر به يې مننوئ يم

څه ناڅه زره کاله تر ميلادي پخوا کالونو کي داوستايې مدنيت بنسټ په بلخ يا پخواني بخدي کي کښيښنودل شو .دې مدنيت ته ځکه اوستايي وايي چي معلومات يې د هغه مذهبي کتاب پر بنسټ تر مورخينو رسيدلي چي د اوستا په نوم ياديږي . اوستا د زردشت يا سپينتمان له خوا ويل شوي نصحتونه دي چي د زردشت تر مړيني وروسته د هغه پيروانو دا نصيحتونه را ټول او داوستا په نوم يې ياد کړل .

د اوستا ماناد قانون او هدايت په توګه زياته کارول شوېده . لومړني اوستايي متن د غوايې پر پوستکي ليکل شوئ و . د سکندر دواکمنئ پر مهال د اوستا زياته برخه چي پر پوستکو ليکل شوې وه ، وسوځول شوه . د دې پوستوکو شميره ۱۲۰۰ يو زر او دوه سوه ته رسېدل . تر سکندر وروسته د زردشتي ائېن پيروانو د اوستا پاتي شوني را ټولي او د هغو پر بنسټ يې د اوستا پنځه برخي وليکلي چي د : يسنا، وېسپرد ، ويندیداد ، يشت او وړوکي اوستا په نوم ياديږي .

زردشت ٦٦٠ کاله د مخه تر مېلاد په بلخ کي زيږېدلئ دئ . په شل کلنئ کي منزوي شوئ او په ٤٢ کلنئ کي يې دلار ښود دعوا وکړه . خپل نصحيتونه يې پيل او ګشتاسپ پاچا يې خپلي لاري ته دعوت کړ . ګشتاسپ يې دعوت ومانه او دهغه پيرو شو . زردشت په خپل ائېن کي اهورا مزدا د نيکئ خدای او اهريمن د بدئ خدای ګاڼه او د هغو دوو تر منځ يې مجادله او مقابله همېشنئ ګڼله . خپلو پيروانو ته به يې ويل چي د اهورامزدا لورئ ته ودرېږي او د اهريمن له شره ځان وساتي . تر ټولو مهمي ويناوي يې نيک فکر کول ؛ نيک ويل ؛ نيک کارکول ؛دي ، چي د اوستا يې متنونو په مرسته تر اوسه را رسېدلي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زردشت د نصيحتونو له شميره دا يوه بيلگه يادو چي په اوستا كي راغلې ده : ستاسو څخه پوښتنه كوم اى اهورا مزدا ! د هغه چا سزا څه ده ، چي د خپلي واكمنۍ لپاره د دروغو او بدو عملونو لاره خپله وي ؛ او هغه بد عمله چي ښوزلو ، ناچارو او فقيرانو ته يې بيله ازار او ستمه بل څه نه رسيږي ؛ كه څه هم چي د غريبانو او بزگرانو له لوري هغه ته كوم ازار نه رسيږي ؛ و ويل شوه چي : هيڅ يو ستاسو له ډلي دهغه بدعمله خبرو او حكم ته غوږ مه نيسى ، ځكه چي هغه ستاسو كور كلۍ او ښار د اړتيا او فساد سره مخ كوي ، ځكه يې د سلاح په زور له خپله ځانه ليري كړى ! .

د اوستا يې مدنيت پر مهال اريا يي وگړو داسي دودونه درلودل چي تر اوسه هم د يو شمير قبيلو او قومونو په منځ كي معمول دي . د بيلگي په توگه د نيزې وهلو لوبه ، د اس ځغلولو لوبه ، د كال د لومړى ورځي جشن ،اتڼونه ، د مېلو د ورځو سندري ،موسيقي او داسي نور ياودولاى شو . اوستا د هغه مهال يو شمير سياسي كورنۍ او واكمنان هم را پيژني چي د افغانستان په تاريخ كي د ا برخه د كيسه يې تاريخ ( تاريخ اساطيري ) په نوم مشهوره شوېده

د افغانستان د پښتنو پهٔ اړه مشهور باب

سمول

افغانستان د اسيا د لويې وچي په زړه كي پروت لرغونى هيواد دى . د دې هيواداوسيدونكو په زيات زماني واټن كي ډول ډول مدنيتونه مينځته راوستي ،او ستري كارنامې او نه هيريدونكي پيښني يې د خپل تاريخ وياړ گرځولي دي . د دي هيواد تاريخ د بيلا بيلو قو مونو په شتون او پيوستون سره داسي ښكلي شوې چي هره پاڼه يې د ذاتي كيفيت لرونكي او هر عنوان يې د برم بيان دى. د دې قومونو شته والى په ځانگړې توگه مشر ورور يا پښتون قوم د هيواد دتاريخ وياړلې ماهيت گرځيدلې دى ، چي له يوې خوايې د هيواد هويت ټاكلى او له بلي خوا يې د هيواد په پت ساتنه كې ستري وياړني خپلي كړي دي .

د پښتون قوم د ستي او ريښې پيداكولو په اړ وند د پخوانيو زمانو راهيسي د زيات شمير پو هانو او ليكوالانو څيرني او ليكني شته چي هر يوه ليكوال په خپل اند او فكر د خپلو څيړنو نتيجې په خپلو اثارو او تاليفاتو كي برملا كړيدي . خو د زماني بدلون د ليكوالانو په اثارو كي ځرگند دي . تر اوسه چي كومي ليكني د پښتونو د ستي او ريښې په تړاو شوې او خپاره شويدي ، كيداشي دا ليكني له بنسټه پر دوو برخو وويشو : لومړى د ضديت پر بنسټ ، دوهم د علميت پر بنسټ ليكني دي .چي په دې برخه كي د پورتنيو بنسټو نو په اړه په زيات لنډون د ځينو اړينو مطالبو يادونه كوم .

لومړى د ضديت پر بنسټ ليكني : په زياته پيمانه د دي ډول ليكونو اخځ او مر جع فكلوريك او افسانه وي روايات دي ، او هغه وخت چي دا روايات د تعصب سره يوځاې شي بيانو د ضديت پر بنسټ د ليكلو لپاره مطالب را زيږيولاى شي .د بليلگي په توگه د دي ډول ليكنو څخه چي د پښتون قام سره د ضديت پر بنسټ ولاړي دي يو هم د ايراني ليكوال او ډيپلومات مهدي فرخ ليكني دي چي نه يوازې داچي تاريخي واقعيت يې په ليكنو كي د افغانستان په اړه نه ليدل كيږي بلكي د پښتنو او افغانستان سره د عصبانيت لمبي يې له ورايه ځرگنديږي . په دي اړه يوه روښانه بيلگه په 1919 ميلادي كال د افغانستان د خپلواكى د بيرته اخستلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هکله د نوموړي يادوني را يادوم چي په خپل اثر ( تاريخ سياسي افغانستان نو ) کي يې خپل اند داسي انځور کړيدئ چي ګويا د افغانستان خپلواکي د انګليسي سياست پوهانو يوه پيرزوينه وه ، نه دا چي افغان اولس انګليسي قوماندانان دي ته اړ کړل چي د افغانستان خپلواکي په رسميت وپيژني . په داسي حال کي چي دا حقيقت ټولو ته څرګند دئ چي په 1919 ميلادي کال د زرګونو افغانانو د سر ښندني او قربانيو په وجه وروسته له هغه چي انګليسي ځواکونو د جګړې په بيلا بيلو برخو او محاذونو کي پوره ماتي وکړه ، بيانو انګليسي واکمنانو د افغانستان خپلواکي په رسميت وپيژندله . په دي حقيقت نه يوازې افغاني مورخين بلکي انګلسي مورخين او څيرونکي هم پوره قايل دي چي افغانانو د يوې سختي او درنې جګړي وروسته خپله خپلواکي تر لاسه کړل ، خو داچي ايراني ليکوال مهدي فرخ د افغانانو لپاره دابرئ نه خوښوې نو ځکه يې روښانه لمر ته دوې ګوتي نيولي او د لمر د پټولو هڅه کوي . همدي ليکوال د پښتنو د ستي او ريښې په اړه هم خپل عصبانيت نه دئ پټ کړئ ، نوموړئ په خپل اثر کي په هغه جوړي سوي افسانې او جعلي روايت زور اچولئ چي وايې : د افغان نوم د دوو کليمو څخه جوړ سويدئ ( اهه ) او ( فغان ) او مانايې اهه او فغان ده ، د نوموړي له انده د ضحاک په وخت کي يو شمير کسان د دښمنانو لاس ته ولويدل او دښمنانو هم د هغو کورنيو ټول نارينه مړه کړل او د ښځو سره د زور زياتي اړيکو پر بنسټ د نوي نسل د زيږد پر وخت اهه او فغان اوريدل کيدئ ، نو د هم هاغه زور زياتي اړيکو څخه را ټوکيدلئ نسل افغانان دي .

له بده مرغه يو شمير ليکني د تعصب پر بنسټ خپرې شويدي ، تر کومه ځايه چي د متعصبينو توان وو نو خپلي رايې ته زور ورکړيدئ ،کله چي يې د خپل اند د پراختيا زمينه نه ده ليدلي بيايې په لوي لاس د پښتنو د ستي او ريښې په اړه و هغو رواياتو او نکلونو ته لاره هواره کړې چي علمي بنسټ نه لري دا ده دي لپاره چي ديو شمير لوستونکو او څيرونکو په تيره بيا بهرنيو څيرنکو پام د نوو علمي څيرنو د نتيجو څخه واړه وي . په دي برخه کي بيا ديوي بيلګي يادونه اړينه بولم ، او ديوه هلندي څيرونکي هغه اثر ته ګوته نيسم چي په غالب ګمان يې د افغانستان د تاريخ ليکلو لپاره د هغو منابعو او اخذونو څخه مرسته غوښتي چي يا د غير پښتون په وسيله ليکل سوي او يا يې هغه اثار چي د پښتنو په اړه د نويو څيرنو څرک پکښي نشته کارولي دي .

د لايدن پوهنتون يوتن استاد په خپل هيواد کي د افغانستان د مينه والو لپاره په هلندي ژبه په 2002 ميلادي کال د افغانستان په نوم يو معلوماتي اثر خپور کړ . په دې اثر کي له دريو عمده برخو څخه يوه برخه په افغانستان کي ميشتو مليتونو ته ځانګړي شويده . نوموړي د پښتنو د ريښې او ستي په اړه هم هاغه زاړه روايات او بيا دهغه ملا نعمت ا لله (( نو موړئ د جهانګير د دربار منشي وو او مخزن افغاني نومې اثر د ليکلو کار يې ښايې په 1612 ميلادي کال پای ته رسولئ وي )) کيسه او نکل ليکلي چي پښتانه يې د عبريانو اويا اسرائيلو يو ښاخ ګڼلي او د وخت هندي مغولي دربار ته د نيمګړو معلوماتو په ورکولو سره يې د يوه داسي نکل بنسټ کښيښودئ ، چي د زيات شمير ليکوالانو لپاره يې د کالونو کالونو په ترځ کي د روايتي منبع په توګه کار ورکړ ، خو دادئ د ورستنيو علمي څيرنو پر بنسټ نه يوازې هغه روايت ناسم راوخوت بلکي د پښتنو اريائتوب يې په علمي بنسټ څرګند او برملا کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه نه غواړم د ملا نعمت ا لله د روایت د تردید لپاره دلایل و لیکم ، په دي اړه غواړم د درنو لوستونکو پام هغو اثارو ، کتابونو او لیکل شوو مطالبو ته را واړوم چي په هغو کي د نعمت ا لله د روایت د تر دید لپاره په پوره تفصیل ارزښتمن او علمي مطالب لیکل سویدي. د یادوني وړده چي په دي اړه د ټولو هغو اثارو یادونه ممکن کار نه دئ چي د نوموړي ملا او دهغه د پیروانو په اړه د تردید علمي مطالب او مباحث ترتیب او خپاره سویدي ، دلته یوازي دبیلګي په توګه د یوشمیر اثارو او لیکنو یادونه کوم .

لومړي د هغوافغاني مورخینو او اتنولوجستانو له خواد لیکل سوو اثارو بیلګي لیکم چي د نوموړئ ملا د روایاتو او هغه ته د ورته نورو روایاتو او نکلونو په وړاندي یې د علمي اصولو پر بنسټ د منلو وړ حقایق او واقعیتونه را برملا کړیدي : د پښتو ادبیاتو تاریخ دوه ټوکه د علامه حبیبي لیکنه ، د افغانستان لرغونئ تاریخ لومړي ټوک د استاد احمد علي کهزاد لیکنه ،پښتانه د تاریخ په رڼا کي د ظفر کاکا خیل لیکنه ، افغان او افغانستان د پروفیسور کاکړ لیکنه، لودي پښتانه د پروفیسور رشاد لیکنه ، پښتني قبیلي د لطیف طالبي لیکنه ، لر غوني اریائیان د خیر محمد ساد لیکنه ، نقد بر افغان نامه د سر محقیق عطایي لیکنه ، د افغانستان لرغونئ تاریخ د پروفیسور ضمیر ساپي لیکنه ، پښتانه اریائیان دي ګلجانان ظریف ، د پټي خزاني حواشي د علامه حبیبي لیکنه ، پښتانه څوک دي د دوست شینواري لیکنه او په دې ترتیب نور په لسګونو علمي اثار .

د افغاني مورخینو او څیرونکو په څیر یو شمیر بهرني لیکوالانو هم د پښتنو د ستي او ریښي په اړه د نوو علمي څیړنو پر بنسټ د پښتنو اریائیتوب منلي او په بیلا بیلو اړ خونو کي یې د ثبوت لپاره منلي علمي مطالب وړاندي کړي چي د بیلګي په توګه د یو شمیر هغو بهرنیو پوهانو د اثارو نومونه یادوم چي د پښتنو اریائتوب یې د یوه علمي حقیقت په توګه ثابت کړیدي : د کنشکا د سره کوتل ډبرلیک ( باختري ژبه ) د هیلموت هو مباخ لیکنه او د پوهاند زیار ژباړه ؛ پښتانه ( پټانز ) د سراولف کارو لیکنه چي د ژباړي چاري یې الحاج شیر محمد کریمي تر سره کړیدي ؛ پښتانه او ورونه ملیتونه ګډ پیښلیک _ ګډ برخلیک د بورخاردبرینتس لیکنه ؛ او په لسګونو نور اثار چي د ټولو لیکل په دي لنډه مقاله کي ممکن کار نه دئ .

ګران لوستونکي په خپله خوښه کولاي شي چي د ملا نعمت ا لله او دهغه د نورو پلویانو د مطرح شویو روایاتو د سپیناوي لپاره یاد شوي اثار ولولي ترڅو دا په اصطلاح پټ راز ورته څرګند شي . خو زه په دي برخه کي په لنډه توګه د هغو مطالبو یادونه کوم چي د پښتون قام ریښه لرغونو اریائیانو ته رسوي ، باید زیاته کوم چي په دي برخه کي به زه زیات نوي مطالب ونه لرم خو دومره به وي چي د پخوانیو څیړنو پر بنسټ یو لنډ مطلب ولیکل شي څو د ځوانو پښتنو لپاره د پوهیدو وړ وي .

د پښتنو تاریخي څرک : پخوا تر دي چي د پښتنو تاریخي څرک ته مخه وکړو ، لومړئ د یوه ټولنیز بهیر بنسټیز ار ته د درنو لوستونکو پوره پام اړول غواړم ، او هغه داچي : د ټولني ټو لیز شتون اوښتون لري ؛ ټولنه هغسي چي په تیره زمانه کي وه اوس هغسي نه ده او هم به په راتلونکي کي داسي نه وي لکه چي نن ده . د دي ار په نظرکي لرلوسره کیدای سی د پښتنو تاریخي څرک واخلو او په لاره کي د ترلو دروازو پرانستل د همدي ار په مرسته وکړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتنو تاريخي څرک به له دې ځايه پيل کړو چي پښتانه اريا ئيان دي ، لا تر اوسه ارين پوهان د اريائيانو د لومړني وطن په اړه يوه خوله نه دي . د اريائي قومونو د لومړني ټاټوبي ( مسقط الراس ) په توګه دري لرغوني سيمي يادي شويدي ، د اورال او کسپين بحيرو چاپيره سيمي ؛ د زرافشان او تيانشان درې او د امو سيند شمال ختيځي ښيرازي سيمي . په هر تقدير ، څه وخت چي د نومړړو قومونو شمير زيات او د ميشت نويو ټاټوبو ته اړتيا پيدا شوه ، بيا يې په بيلا بيلو زمانو کي ډله ايزي ليږديدني وکړې چي ددې ډله ايز ليږد د پيل تاريخ د 3000 څخه تر 2500 کاله پخواتر ميلاد کالونه ټاکل سويدي.

د اريائيانو په اړه تر ټولو باوري منبع هغه تاريخي ويني او بولني ( سرودونه ) دي چي ټولګه يې د ويدا په نوم ياديږي ، او دا د افغانستان تر ټولو لرغونۍ تمدن هم دی چي مورخين يې د ويدي تمدن په نوم يادوي ، اولرغونتوب يې څه ناڅه 1800 کاله پخواتر ميلاد کالونه په بر کي نيسي . دا هغه وخت وو چي اريائيان د امو سيند سهيلي څنډو ته رسيدلي او دبلخ په لرغوني ښار کي يې د ښيرازه تمدن بنسټ ايښی او هغه تمدن ته يې د ودي او پراختيا لورې پرانيستې وو. څيړونکو ثابته کړې چي ويدي بولني په بنسټيزه توګه د هندوکښ په سهيلي برخو کي ويل سويدي ، خو د څيړونکو په اند د هندوکښ په سهيل کي د ويدي بولنو هر اړخيز توب او توان دومره غښتلي دی چي بيله شکه د دي ليکنيزو ادبياتو وړاندې ، د ويانديزو يا ګړني ادبياتو شتون ثابته وي . په دې ترتيب پخواتر دې چي اريائي قومونه په بلخ کي د يوه پر مختللي مدنيت بنسټ کښيږدي ، د هندوکښ په شمال او د امو سيند په سهيل کي يې د مدنيت وړاندي کلتوري مرحلو بيلا بيل پړاونه تير کړيدي .

د ويدا په څلورو برخو ( ريګويدا ؛ اتهرو ويدا ؛ ويجورو ويدا ؛ او ساما ويدا ) کي د اريائي قومونو د ژوند په اړه هر اړخيز معلومات شته چي د تاريخي څيړنو لپاره ارزښتمن مواد دي . په دي برخه کي يوې بيلګي ته د لوستونکو پام را اړوم : پکهت ؛ دا هغه نوم دی چي د ريګويدا په متن کي زيات ياد سويدي . ژبپوهان د پکهت نوم د پښتون د نوم پخوانۍ شکل ګڼي په دي اړه د رګويدا په وينو ( سرودونو ) کي د پکهت د نوم د يادولو څو بيلګي را وړم :

1 -- ... بريګو س او درپهو س ژر غوړ و نيو ی يوه دوست بل دوست ته د دو ليرو قبيلو په منځکي نجات و با خښه ... د پکهت او بهالانا او الينا او شيوا او اوشيانن خلق سره راټو ل شو ل د اريائي ملګري لار ښو ونو ته د تريتسو قبيلي ته راغی ، د ده دا زړه ورتوب ، را تګ له دي امله وو چي له جګړي سره يې مينه درلوده .

له دي سندري څخه څرګنديږي چي پکهت ( پښتون ) او بهالانا ( بولانيان ) الينا ( نورستانيان ) شيوا ( د کابل د شيوکي خلک ) په يوه جګړه کي سره ملګرې وه .

2-- ... اي ايندرا ! ته ډير لوی يې له تا څخه غواړم چي موږ ته پې وري غواوي راکړې ! لکه مدهه پاتي تيا او ني پاتي تيا ته چي دي ورکړيدي .هغه سي لکه د کنوا ټبر او د تراساديوس شهزاده او پکهت او ساوراچا ته چي دي ورکړيدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

3-- ...اي اسونا نو (( د سهار دوه ستوري ))پر خپلو جنګي اربو سپاره شئ ، پر خپل طلايي پلاز کښېنئ ، اي هغو خلکو چي تاسي بايا ن ياست او هغه مرستي چي تاسي له پکهت او ادريکو سره وکړه ، نو با بهرو له خپلو دوستانو څخه بيل شو.

په دي ترتيب د پکهت يا پښتون ډيره لرغوني يادونه په ليکل شوي ويدا کي شته ، او د يوي قبيلي په توګه يې د وخت په پيښو کي ټاکلې ونډه درلوده .

د افغانستان د لرغوني تاريخ د پوهيدو لپاره يو بل معتبر ماخذ د اوستا مقدس کتاب دئ چي د زردشت يا سپين تمان په وسيله مينځ ته راغلئ او تبليغ شويدئ . مورخين د دې اثر دتبليغ او حاکميت زمانه د 1200 پخوا تر ميلاد څخه بيا تر 700 کاله پخوا تر ميلاد کالونه په ګوته کوي . د ازمانه د افغانستان په تاريخ کي د اوستايي تمدون تر عنوان لاندي مطالعه او څيړل کيږي . دا مدنيت هم د ويدي مدنيت په څير د اريائيانو له خوا منځته راوستل شو او وده يې ورکړل ، چي د پښتنو ونډه بياهم رو ښانه وه ، د بيلګي په توګه د زردشت يو ډير اوريدونکئ نوم سپينتمان وو چي په اوسنئ پښتو کي هم پوره د پوهيدو وړ نوم دئ . د دي سره سره چي د اوستايي متونو په ځينو برخو کي د سهاکو قبيله ښه نه ګڼي .

د سپين تمان د نوم سربيره يوشمير نور نومونه هم په اوستا کي ځو ځو ځله راغلي چي ځني يې تر اوسه په خپل حال پاته دي او يو شمير نومونه په لږ تغيير په اوسنئ پښتو ژبه کي هم د پوهيدو وړ دي ، چي په دي برخه کي د يو څو بيلګو په يادولو بسنه کوم : سپينه ګوناغيري ؛ په اوستا کي دا نوم يوه غره ته منسوب دئ چي جغرافيه پوهانو يې موقعيت د اوسني سپين غره ټاکلئ دئ . ويسه ؛ داکلمه تر اوسه هم په پښتو ژبه کي بيله توپيره کارول کيږي چي مانا يې ويسا او باور دئ . په همدي ترتيب د ورشو کلمه چي په ويدي او اوستايي مدنيت کي کارول شويده ، او داسي نوري کلمي او مفاهيم شته چي د پښتنو او پښتو ونډه په اوستايي مدنيت کي بر ملا کوي .

د پښتنو د تاريخي څرک لپاره د معتبرو ماخذونو په لړ کي تر اوستا يې متونو وروسته تر ټولو ډاډمن ماخذونه هغه ليکني دي چي د يوناني مورخينو په وسيله ليکل شوي او د منځنئ اسيا په بيلا بيلو سيمو پوري اړه لري ، په دې برخه کي د بيلګي په توګه يوازي ديوناني نامتو مورخ هيرودوتس ( په 425 تر ميلاد وړاندي کالونو کي مړ شويدئ ) هغه يادوني رانقلوم چي نوموړي د پښتون او د پښتنو د هيواد په اړه په خپلو اثارو کي په ډير ځله ثبت کړي دي . د بيلګي په توګه ، هيرودوت ليکي :

1 --- سر بيره پر دې نور هنديا ن هم شته چي د پاکتو يک هيواد د کاسپارتوس له ښار سره سرحد لري ؛

2 --- د پاکتو يک خلکو د پوستکي چپني اغوستې او د خپل هيواد لندئ او چړې يې له ځا ن سره درلودې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

3 --- يوه کوچي قبيله چي ساګار توي نوميږي ايرانيان دي ، په لبا س کي نيم پاړسي او نيم پکتوا ن دي .

4 --- دو ی خپل دغه دريايي سفر د پاکتو يک هيواد د کاسپارتوس له ښاره پيل کړ . دټولو ژبپو هانو پر دې ټکي اتفاق دی چي د پا کتويک مانا اوسنې پښتون دی .

پر هيرودوتس سربيره يوشمير نورو يوناني ليکوالانو او جغرافيه پوهانو لکه بطليموس ، هيکتايوس او نوروهم د پښتنو په اړه په خپلو اثارو کي يادوني کړيدي بطليموس په مکرر ډول د پکتين نوم ياد کړيدی ، او همداډول د هيکتايوس په اثارو کي د کاسپاپور ( پيښاور ) ګندهارا ( ننګرهار ) او نور نومونه راغلی دی .

د مقدوني سکندر سره د جګړو په مهال ( د 330 څخه تر 326 د ميلاد وړاندي کالونه ) نه يوازي د پښتون قوم يادونه په واروار شويده ، بلکي د بيلا بيلو قبيلو يادونه هم شويده دبيلګي په توګه : د شتک ( ختک ) اسپزي ( يوسفزي ) ساګاري ( ساخري ) او نورو نومونه يادولاي شو .

د لومړی ميلادي پيړی په درشل کي د پښتنو يوي قبيلي چي سهاک نوميدل د يوي لويې واکمنی بنسټ کښيښود ، چي د افغانستان په تاريخ کي د کوشاني امپراتوری په نوم پيژندل شويده . د همدي پاچاهانو په وخت کي د پښتو ژبي ګړنی يا دوييني برخي د وخت په ليکنو کي معمول ګرځول سويدي ، د بيلګي په توګه د بغلان د سره کوتل په ډبرليک کي د اوسنی پښتو ژبي ډيري ګړنی کليمي ليکل شويدي لکه : انند ( ننداره) ؛ وکيدو ( کيدل ) ؛ بګه ( بغي ) ؛او نور .

د کوشاني امپراتوری وروسته د پښتنو بله قبيله چي ايپتالي يا ابدالي نوميدل په ( 425 ميلادي کال ) د لويي امپراتوری په جوړولو برياليي شول . د ايپتالي يا ابدالي پاچاهانو نومونه لا تر اوسه په پښتو ژبه کي کارول کيږي ، د بيلګي په توګه : توره منه ( توره وهونکی ) ايپتالي پاچا ( په 502 ميلادي کال وفات شو ) .مهراکولا ( مهر ګل ) په 542 ميلادي کال وفات شو ، او داسي نور .

د ايپتالي پاچاهانو پاتشوني او د زابل واکمنانو چي د پښتنو په بيلا بيلو قبيلو پوري يې اړه درلودل لږ تر لږه د 300 کالونو پوري د عربي لښکرو په وړاندي د خپلي سيمي ژغورني ته ملا تړلي وه، تر هغو چي د سيستاني يعقوب ابن ليث صفار په وړاندي يې خپل مورچلې پرېيښودلې او اړوندي سيمي يې د صفاري واکمنانو تر سيوري لاندي شوي .

د اپتالي پاچاهانو وروسته د ځينو چيني زيارت کونکو او بيا تر هغه وروسته د عربي ليکوالو په اثا رو کي د پښتون د نوم څرک په زياته پيمانه ليدل کيږي ، خو د دي نوم تر څنګ د اپګان يا افغان نوم هم په سترګو کيږي چي تر ټولو پخواني شکل يې په ساساني ليکنو کي ليدل کيږي چي تاريخ يې دريمي ميلادي پيړی ته رسيږي .او تر هغه وروسته د چيني ليکوالو او زيارت کونکو په وسيله ثبت سويدی ، د بيلګي په توګه چيني نامتو زيارت کونکی هيونتسنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پالا نه د سيمو د ليدلو وروسته د يوه بل هيواد نوم اپوگان ياد کړيدئ چي د زياتو څيړنکو په اند دا نوم د افغان پخواني شکل دئ . ښايي د عرب ليکوال المسعودي په اثر کي ياد ه شوې د ابغان کليمه هم افغان وي که دا خبره سمه وخيژي بيا به المسعودي لومړې عربي ليکوال وي چي د افغان کليمه يې کارولې ده ؛ خو د حدود العالم من المشرق ا للمغرب ليکوال بيله شکه د افغان کليمه او نوم په پوره وضاحت ياد کړيدئ . د بيلگي په توگه نومورې ليکي : ساول يوه نعمت لرونکې سيمه ده چي هلته افغانان اوسيږي .

زابلي پاچاهان د پښتنو هغه غير مسلمان وروستي پاچاهان وه چي د صفاريانو په وسيله د ماتي سره مخامخ شول ، له هغه وروسته بيا په 940 ميلادي کالونو کي د مسلمانو پښتنو واکمني په پاشلي توگه د افغانستان په سهيل لويديځو سيمو کي تاريخي اثارو ثبت کړيده . له نيکمرغه د محمد هوتک پټه خزانه ؛ د سليمان ماکو تذ کيرت ا لا اوليا ؛ د اخوند درويزه تذکيرت الا ابرار او زيات شمير نور اثار په پوره تفصيل د بيټ نيکه او د هغه د ورونو په اړه په زړه پوري معلومات لري ، چي گران لوستونکي د نومړو اثارو لوستلو ته په زيات درنښت رابولم .

باميان (ام البلاد)

هغه وخت چي د کوشاني سلسلي ستر امپراتور کنيشکا (احتمالا 120 ميلادي ) د بودايي مذهب لاره خپله کړل ، په لرغوني افغانستان کي نوي مدنيت زيږيدلي او د پراخيدو زمينه يې برابره سوي وه ، چي زموږ د هيواد په تاريخ کي نومورې مدنست د گريکو بوديک مدنيت په نوم ياد يږي . دی مدنيت چي له يوي خوا يې د لرغوني يونان هنري ښکلا له ځان سره درلودل او له بله پلوه يې بودايي روحانيت په ځان کي ونغښت او تر ټولو ارزښتمن داچي د افغاني چاپيريال په لمن وزيږيدئ ، وروږو په يوه داسي مدنيت واوښت چي په پخوانی نړئ کي يې ساري نه ليدل کيږي .

د گريک بوديک تمدن ريښي په لرغوني افغانستان کي شني شوې ، وده يې وکړل او بيا نورو گاونډيو سيمو او هيوادونو ته ورسيدئ . تر هغه چي ستر کنشکا لا بودايي مذهب نه وو خپل کړئ ، نومورې مذهب د يوي پرتي او بي خوځښته عقيدي په توگه د هند په محدوده کي بندي پاته سوئ وه . همداډول د لرغوني يونان څخه راغلو هنر مندانو د خپلو هنرونو ښکلا د ختيځو خيالاتو سره د تلفيق او يو ځاې والي په لار کي ټاکلي ستونزې درلودې .د کنشکا د واکمنئ پر مهال د افغاني هنر مندانو او ماهرينو په وسيله د ا ستونزې ليرې سوې او د يوناني هنر او هندي روحانيت تر منځ د يوالي او تلفيق زمينه منځ ته راغله چي په پايله کي يې د يوه ستر تاريخي تمدن د منځته راتلو زمينه برابره او د نوي مدنيت جوړښت او خوځښت پيل سو .

گريکو بوديک تمدن د افغانستان پر لرغونی ټولنه هر اړ خيز تاثيرات وښندل ،د نومړي مدنيت اثرات په افغانستان کي محدود پاته نه سول بلکي دجاپان ، کوريا ،او چين څخه بيا تر اوسني ايران او سيستان پوري ، د سريلانکا او هند څخه بيا تر سير دريا اوتاجکستان پوري ټولي سيمي تر خپلي اغيزي لاندي راوستي وې . د نړئ له بيلا بيلو سيمو څخه به د مذهبي مراسمو د پر ځاې کولو په نيت زيات شمير راهبان ،زايرين او سيلانيان په افغانستان کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودان شوو بو دايي زيارتونو او عبادت ځايونو په ځانګړي ډول د باميان لرغوني او د بو دايي پير متبرک ځای ته د ليدو کتو په نيت سفرونه کول .

د باميانو په اړه تر ټولو پخواني معلومات د چيني زيارت کونکو له خوا ليکل سوي او لا تر اوسه زموږ په واک کي سته . فاهيان تر ټولو پخوانی چيني زيارت کونکی دی چي د باميان په اړه ليکني لري . نوموړی په 400 ميلادي کال د باميانو دره ليدلي او د سترو مجسمو په اړه يې ارزښتمن معلومات ليکلي دي . نوموړي ليکي د باميانو دره شنه او پاکه ده ، د سترو مجسمو شاه او خوا هره ورځ وينځل کيږي ،زيات شمير مذهبي مدرسي شته ، هره ورځ زيارت کونکي او سوداګران دي سيمي ته د تلو راتلو په حال کي دي . د راهبانو لپاره ځانګړي صومعي جوړي سوي ،او د مواشيو او بوده ګانو لپاره بيل ټاټوبي شته .

تر فاهيان وروسته بل چيني زيارت کونکی هيونتسنګ وو چي د باميانو سيمه يې ليدلې او په خپلو يونليکونو کي يې زيات ارزښتمن مطالب را ټول او ليکلي دي . نوموړي په 600 ميلادي کال د افغانستان سفر تر سره کړی او په دي لار کي يې د باميانو سيمه هم ليدلې ده . د هغه په قول په باميانو کي تر لس زياتي خانقاوي شته چي په هغو کي څه ناڅه زرتنه واعظين د بودايي مذهب تبليغ ته ګمارل سويدي . په لسګونو مدرسي شته چي هره مدرسه لږ ترلږه زرتنه زده کونکي لري . هيونتسنګ په باميانو کي وړي او لويي مجسمي ليدلي خو يوه داسي مجسمه يې هم ليدلي چي د هر سهار د لمر په وړانګو به هغې مجسمي طلايي رنګ اخستئ اوداسي بريښيدل لکه دا ټوله مجسمه چي د طلا څخه جوړه سوي وي . تر هيونتسنګ وروسته کورياېي زيارت کونکئ د باميانو په اړه پوره معلومات لري . نوموړی په 727 ميلادي کال باميانو ته سفر کړی او په سيمه کي يې د بودايي مذهب د پيروانو د شتون په اړه ليکني کړيدي .

د زيارت کونکو تر يادونو وروسته څه ناڅه دري سوه ( 300 ) کاله د باميانو او په ځانګړي توګه د سترو مجسمو په اړه باوري معلومات نه دي ليکل سوي ، د دي سره سره چي د يو شمير مورخينو په ليکنو کي د مجسمو يادونه سوي ، چي د بيلګي په توګه د طبري ، يعقوبي ، البيروني نومونه رادولای سو . خو هغه وخت د باميانو د مجسمو يادونه يوځل بيا وسوه چي د تموچين يا څنګيز ورانکارو غوښتل چي د سترو مجسمو لوړ سر ته خپلي غشي ورسوي ، چي هيڅ يو هم ونه توانيدئ چي د لوي مجسمي سر ته غشي ورسوي . د اولسمي ميلادي پيړی په جريان کي د اورنګ زيب لښکرو د توپ د ډزو په وسيله د لوي مجسمي مخ ته زيان واړاوه .

د افغان انګليس د لومړی جګړي په وخت د ليدي سيل په وسيله د باميانو او بودا يې مجسمو په اړه يو لړ خپروني وشوي ، برنس په 1819 ميلادي کال باميانو ته ورسيدئ او د بودا يې مجسمو او په باميانو کي د نورو نقاشيو په اړه زيات مطالب وليکل او بيايي په بيلا بيلو خپرونو کي نشر ته وسپارل . چارلس مسون په 1835 ميلادي کال د بودا ستري مجسمي وليدلې او د دي مجسمو په دننه کي يې د يوي لاري د شتون خبره سپينه کړل چي په پخوانيو وختونو کي به زيارت کونکو د ستري مجسمي و لوړي برخو ته رسيدل . کپتان متلاند په 1922 _ 1924 ميلادي کال باميانو ته سفر وکړ او د سترو مجسمو د جوړښت او د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جدارونو په اړه يې څېړنې او پلټني تر سره کړي چې د خپرېدو وروسته د زياتو لرغونپوهانو د پاملرني وړ وګرځېدل .

په افغانستان کې د رسمي سپړنو او څېړنو د پيل را وروسته 1922 ميلادي کال د باميانو ستر ي مجسمي لومړی د فرانسوي لرغونپوه الفرد فوشه 1922 ميلادي کال له خوا وڅېړل سوي د نوموړي په اند دا مجسې د هندي راورتي مجسمو سره يو شان دي . نوموړي په خپلو څېړنو کې څرګنده کړل چې په څلورمه او پنځمه ميلادي پيړی کې د بودا دوي ستري مجسمي چې يوه د صل صال او بله د شامامه په نوم يادېږي جوړي سوي دي . د دي سترو مجسمو په اړه دعلمي سپړنو او څېړنوکارد فرانسوي لرغونپوهانو په وسيله پيل او بيا وروسته د نورو هيوادونو لرغونپوهانو هم د دي مجسمو په اړه څېړني او ليکني تر سره کړيدي ، چې د بيلګي په توګه د هندي ، جاپاني ، چيني ، او افغاني لرغونپوهانو يادونه کولاي سو .

د افغانستان پنځۀ زره کلن تاريخ لرونکې سيمه منديګک

•

په زياتو رسمي او ولسي غونډو کي د خبرود پيل وياړلي لومړی جمله غالبا د افغانستان د پنځه زره کلن تاريخ يادونه ده . په هر ناستون ، ميلمستون او يا د زدکړې په ټولګيو کي د افغانستان د پنځه زره کلن تاريخ په وياړ يادونه کيږي . دا سر ليک د کومه راپيدا شوېدی ؟ په رښتيا هم افغانستان پنځه زره کلن تاريخ لري ؟ او کوم اسناد او شواهد د دې سرليک د تاېيد او تبيت لپاره شته ؟ په دې ليکنه کې نوموړو پوښتونو ته په لنده توګه جواب ليکل شوېدی.



د منديګک یوه لرغوني برخه

3000 کاله پخوا تر میلاد وړاني

منديګک

د هغو څېړنو پر بنسټ چې د افغانستان په بيلا بيلو سيمو کي تر سره شوي ، د دې هيواد د لرغوني تاريخ جرړی يې ډيري وړاندې او پخوانی ښودلې دي . لويس دوپرې * امريکايې څېړونکې د غزنی په ناور دښت کې څېړني او سپړني تر سره کړې چې په نتيجه کې يې داسې ډبريني وسلې او الات تر لاسه کړل چې د انساني ټولنو له خوا کارول شوې وه ، د دې اثارو تقريبي تاريخ د يو سل او پنځوس زره کاله څخه تر سل زره کاله پخوانی زمانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښودل سوېدی په اق کپروک ، هزارسم ،قره کمر او يو شمير نورو لرغونو سيمو کي داسې نښانې او اثار تر لاسه شوې چي لر غونتوب يې د څلويښت زره کاله څخه بيا تر پنځه ويشت زره کاله پوري پخوانيو زمانو ته رسيږي ، په بدخشان کي امريکايې لرغونپوه کارلتون س کاون * تر مشرۍ لاندي د کور درې په نوم يوه لرغونې مغاره وسپړل شوه چی د لرغونو انسانانو د فوسيلونو تر څنګ داسې وسايل او الات هم په لاس راغلل چي دټولنيز ژوندانه تر څنک يې د هغه ټولنو معتقيدات او ديني کړه وړه هم برملا کړل . چي تاريخ يې تر ميبلاد 8000 اته زره کاله پخوا زمانو ته رسيږي .

هغه سند چي د افغانستان پنځه زره کلن روښانه تاريخ ويناثابته وې ، د کند هار ښار شمال لويديځ لورې ته پرته يوه لر غوني غونډۍ ده چي د منډيګک په نوم ياديږي د ا لرغوني غونډۍ د فرانسوي لر غونپوهانو له خوا چي مشري يې د مسيو کزل * په غاړه وه د 1951 ميلاديکال څخه بيا تر 1957 ميلادي کال پوري وسپړل شوه . د دي لر غونې غونډۍ د په لاس را غلو اثارو څخه په ډاګه شوه چي د منډيګک د سيمي پخوانيو اوسيدونکو خپل کلتور د مدنيت لوړو پوړيو ته رسولې وو . په دې سيمه کي د کرهڼې منظم سيستم ، ديوه ټاکلې جمعيت يو ځای اوسيدل ، د مسي او برونجي وسا يلو څخه کار اخستنه او د لومړنيو مدنيتونو داسي نوري نښانې تر لاسه شوې چي چي لر غونتوب يې د دري زره پنځه سوه 3500 څخه بيا تر دري زره 3000 کاله پخوا تر ميلاد کالونه ټاکل شويدي .

د منډيګک له سيمي څخه څوارلس کلتوري طبقې چي هريوه يې د يوې اوږدې کلتوري دورې استازيتوب کوي ، سپړل شوې او څيړل شوي دي . د فرانسوي لرغونپوهانو هيئت ( ډا فا ) * چي مشري يې کزل کوله د منډيګک د لاندنۍ کلتوري طبقې څخه د نوي ډبري دوري يا نيولتيک* او د ميسوډبري دوري يا اينيو ليتيک* پوري اړوند وسايل او اثار تر لاسه کړل . په دې وسايلو کي د کرهڼيزو چارو وسايل ، د اوبدلو وسايل ، د ښځو په ډول جوړي شوې ډبريني مجسمې ،د اوزانو په ډول کاڼي ، د غلو دانو علايم ،خاورين لوښي چي د څرخ په وسيله جوړشوې وه ، د ميسو څخه جوړي شوې زينتي ګاڼې او پسولونه او يو زيات شمير داسي اثارچي د پر مختللي کلتور او لومړنې مدنيت ښکارندوي کوي کشف او تر لاسه شوې دي .

درې زره کاله پخوا تر ميلاد په منډيګک کي داسي ودانۍ او ابادۍ جوړي سوي چي اثار او پاته شونې يې تر اوسه په سترګو کيږي . د دي لرغوني غونډۍ په لويديځه برخه کي يوه داسي ودانۍ د لرغونپوهاتو له خوا را څرګنده شول چي د ودانۍ په وړاندنې ځاې کي د لويو ستونونو څخه جوړ شوې لوې حال يې درلود چي د دي ودانۍ د برم او جلال ښکارندويي کوي . لر غونپوهان په دي باور دي چي نوموړې ودانۍ د منډيګک د واکمنانو د اوسيدو ځاې او اداري مرکز وو .د ودانۍ په دننه کي داسي ننوتی او راوتی برخې څرګندي شوې چي د ودانيزو چارو د انجنرانو په عقيده نوموړې ځايونه د ودانۍ د ښکلا او ښايست په نيت جوړشوې دي . د دې تر څنګ د منډيګک د ودانيو پر شا او خوا د يوه داسي لوړ ديوال يا حصار نښانې هم څرګندي شوې چي د ښار څخه د دفاع په وخت کي به ورڅخه کار اخستل شوې وې .

د منډيګک د لر غونې غونډۍ څخه څوارلس کلتوري طبقې په لاس راغلی چي هره يوه يې د يوه بيل پير او بيل پر مختيايې حالت ښکارندويې کوي ، چي په دي لنډه مقاله کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو لاسته راوړنو يادونه ممکن کار نه دئ ، خو د ا اړينه ده څو و ويل شي چي د منډيگک دتمدن بر خه ليک څه شو ؟ دي پوښتني ته ځواب ستونزمن بريښي خو د لرغونپوهانو تلاښ او هڅو څه ناڅه د حل لاره په ډاگه کړي ، ولي بايد څرگنده شي چي لا تر اوسه د لر غونپوهانو تر منځ يوه پريکړې پايله نه ده تر لاسه شوي ، هغه څه چي څرگند دي هغه د څيړنکو تر منځ د دوو بنسټيزو عواملو يادونه ده . يو شمير لرغونپوهان په دي باور دي چي د منډيگک اوسيدونکو د يوه پراخ يرغل په نتيجه کي د خپلي سيمي دفاع ونه شوه کړاي چي پايله يي د منډيگک ښار تخليه کيدل وه او نوو ير غل کونکو د منډيگک د اوسيدونکو ټاټوبي وسوځول او په پاي کي يوه پريښودل شوي سيمه وگرځيدل . دا ډله لرغونپوهان د دې وينا د ثبوت او ثقم لپاره د منځنئ اسيا هغو ټوليزو او جگړه ايزو خوځښتونو ته پام اړوي چي د 3000 کاله پخوا څخه تر 2500 کاله پخوا تر ميلاد په سيمه کي جاري وه .

يو شمير پوهان په دي باور دي چي د منډيگک پخواني ميشتو ټولنو د يوه طبعي نادود له امله د خپلو سيمي پريښودلو ته اړ شويدي ، دا شمير څيړونکي پر هغو څيړنو تکيه کوي چي د هلمند دسيند په اړه د جيولوجستانو له لوري تر سره شويدي . د جيولوجستانو له نظره د هلمند سيند د يخچالي سيندونو په لړ کي شميرل کيږي . او د يخچالي سيندونو يوه مميېزه داده چي د زماني په تيريدو سره خپل بستر او د بهيدو ځاى کښته کوي او له ځان سره وړي . په دي تر تيب 3000 دري زره کاله څخه تر 2500 کاله وړاندي تر ميلاد د هلمند سيند بستر کښته شوى او نور د منډيگک اوسيدونکو دا توان نه درلود چي د خپلي ابادئ لپاره د کښت او کرهڼي اړتياوي د هلمند سيند څخه پوره کړي . د دي شمير پوهانو په اند همدا عامل وو چي د منډيگک سيمه پريښودل شوه .

په هر صورت د منډيگک له لرغوني سيمي څخه په لاس راغلي اثار چي د بيلا بيلو کورنيو او بهرنيو پوهانو او څيړونکو په وسيله مطالعه شوي ، دايي څر گنده کړي چي د افغانستان لومړنئ څرگند مدنيت له منډيگک څخه پيل کيږي ، چي زموږ د گران هيواد د لرغوني تاريخ د لومړي باب سر ليک گڼل کيږي . د منډيگک څخه په لاس راعلي اثار په پرله پسي توگه د افغانستان ملي موزيم ته د رسمي پرو تو کولونو په بڼه ورکول کيدل چي له بده مرغه د افغانستان د نورو وياړنو تر څنگ د ملي موزيم څخه د منډيگک لرغوني اثار چي زموږ د هيواد د پنځه زره گلن تاربخ شاهيدان وه په 1372 لمريز کال د خپل مينځي جگړو په ترځ کي په داسي بيشرمئ لوټ او تالان شول چي د لومړئ سقاوئ غلو خپل گوته په غاښ ونيول .

د لوی گندهارا له لرغونو کولتوري منځيو څخه گڼل کيږي چي يونان-بودايي پېر سره (HADDA)هډه تړاو لري. دا ښار د جلالکوټ تاريخي ښار سوېل اړخ ته په لس کيلو مترئ کې پروت دی.

| هډه |
| --- |
| |

(c) ketabton.com: The Digital Library



هډه(هډه اخندزاده)

پخواني مورخينواو پوهانو د لرغوني افغانستان ختيځي سيمي چې داوسني هند تر شمالي ځنډو رسيدلې ، د ګندهارا په نوم يادي کړيدي . يوناني مورخ هيرودوت او سترابون د ګندهارا سيمه په خپلو اثاروکي د ګنداريس په نوم ثبت کړي ده ، چې د کابل او کنړ تر منځ پرتې سيمي يې په بر کي نيولي د دي سره سره چې د مقدوني سکندر په دوره کي د ګندهارا نوم نه دئ ياد سوئ ، خو د يونان ? باختري دورې حکمرانانو په اثارو کي چې د لرغوني افغانستان پر ټولو په ( GANDARWAاو يا ګنداروا ( ( GANDARATIحدودو واکمن وه ، دا سيمه د ګنداراتي ( نوم ياده کړيده ، چې ناګاهارا ( ننګرهار ) کوهش ( کونړ ) پورا شاپورا ( پيښور ) سراسواتي ( سوات ) سيمي پکښي شاملي دي .

د ګندهارا يو ستر فرهنګي مرکز د اوسنې جلال اباد مرکز ته څيرمه د هډي سيمه ده ، چې په پخوانيو متونو کي د هيلو په نوم ياده شوېده . هيلو د لرغونو بودايانو د تبرک ځای او د هغو د عبادت ستر ټاټوبئ وو. په هغو يونليکونو کي چې د چېني زايرانو څخه را پاته دي ، د دي سيمي په هکله په زړه پوري او ارزښتمن معلومات شته . فاهيان لومړنی چېني زاير وو چې په 420 ميلادي کال يې د هډي ليدنه کړيده . له هغه وروسته سوينګ يون په 520 ميلادي کال هډ ي ته راغلئ او نامتو چېني زاير هوونتسنګ په 630 ميلادي کال هډه ليدلې او په دي اړوند يې زيات مطالب په خپلو ليکونو کي ثبت کړيدي .

د ټولو چېني زيارت کونکو په يونليکونو کي د هيلو په نوم د يوي متبرکي سيمي يادونه سوي چې د زيات شمير پوهانو يې همدا اوسنې هډه ګڼي د بيلګي په توګه د فرانسوي لرغونپوه په عقيده هيلو د همدې هډي پخواني نوم دئ ، چې د ګندهارا نامتو هنري ( JAKIYژاکي ( مکتب پريمانه اثار يې په خپل لمن کي ساتلي دي . دا سيمه د هيونتسنګ په قول تر اومي ميلادي پيړئ پوري د پوره برم او ارزښت لرونکې وه . خو د نوموړي پيړئ راورسته بياتر 81 مي پيړئ پوري د دي سيمي پوره او د پاملرني وړ يادونه نه ده سوي . د نولسمي پيړئ په پيل کي ځينو اروپائيانو چې سيمي ته يې رسمي او يا غير رسمي سفرونه کړي ، د هډي په اړه يې يو شمير مطالب خپاره کړل چې د ورستيو منظمو څيړنو لپاره يې زمينه برابره کړل . په دې برخه کي د بيلګي په توګه د موږکرافت ( 1824_ 1830 ميلادي ) کيمناري ( 1827 _ 1834 ميلادي کال ) چارلس ماسون ( 1834 _ 1837 ميلادي کال ) هونيک بر ګر او نورو نومونه يادولاي سو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هډي لرغونی تپه چې تاريخي جرړي يې له اوسنۍ پير نه 1600 کاله پخوا زمانو ته رسيږي ، د لومړي ځل لپاره په 1923 ميلادي کال د فرانسوي لرغونپوهانو له خوا تر علمي سپړنو او پلټنو لاندي ونيول شوه . لومړی فرانسوي لرغونپوه گودار او بيا وروسته د فرانسوي له لوري تر څېړنو لاندي ونيول شوه چې له نيکه مرغه د زياتو ( D.A.F.A.علمي ټيم ( لرغونو اثارو د پيداکيدو او تر لاسه کيدو په وجه د افغانستان تر ټولو لرغونو سيمو بډايه گڼل سويده .

د لرغونپوهانو د سپړني د پلان له مخي ، لومړی د هډي په لويديځه برخه کي سپړنې پيل شوي ، چې په نتيجه کي يو لوي بودايي معبد را بر سيره شو . د دي معبد څلور خواوي په يوه لوي ديوال احاطه سوي ، چې د هر ديوال پر مخ د معبد په دننه خواکي په ټاکلي فاصله د بيلا بيلو مجسمو پاتي شوني تر لاسه شويدي . د دي معبد د ديوالونو پورتنۍ برخه ورانه سوې ، خو لاندنۍ برخو ته يې زيات زيان نه دئ اوښتئ . د زيات شمير مجسمو شته والئ چې د شيست ډبرو څخه جوړي سوي وې او هم د يو شمير نورو مجسمو شتون چې د اخښل سويو( پخو ) خټو او شيست ډبرو څخه په تر کيبي توگه جوړي سوي وي ، دا ټوله د دی معبد برم او ځانگړتيا څرگنده وي . له هغه نه وروسته د هډي په سيمه کي په پر له پسي توگه سپړنې جاري وساتل سوې چې د ټولو سپړنو په اړه يادوني په دي لنډه ليکنه کي ممکن کار نه دئ ، ځکه د سپړنو د تفصيل څخه تيرېږو او يوازي د هغو مطالبو يادونه کوو چې د دي ليکني سره وړ بريښي .

ترټولو وړاندي د دې مطلب يادونه اړينه بريښي چې د گندهارا د نړيوال تاريخي او لرغوني هنري مکتب د پلازميني لقب ولي د هډی په سيمه پوري متعلق گڼل سويدئ ؟ دي پوښتني ته د هغو لرغونپوهانو او څيرنکو د پر له پسي سپړنو او څيرنو د پايلو په يادونه بسنه کوو چې په هډه کي يې تر سره کړيدي . د مورخينو له نظره تر ټولو لومړئ موثر لامل د گندهارا د هنري مکتب د پيدايښت او ودي لپاره د خپلي زماني مناسب شرايط او لازم امکانات وه ، چې د ستر کنشکا د امپراتوري پر مهال برابر سوي وه . دوهم لامل په بوديزم کي د بدلون او نوښت منځ ته را تلل په گوته سويدي ، چې د هينايانا (وړوکي عرادې ) مذهب يې په مهايانا يا ( لوي عرادې ) په مذهب واړاوه . او دريم لامل يې د گندهارايانو خلاقيت او فکري توانمندي ياده سويده ، چې په ټوله بودايي نړئ کي يې د لومړي ځل لپاره د بودا د مجسمو د جوړيدو نوښت او ابتکار وکړ . هډي ته د گندهارا د هنري مکتب د پلازميني لقب د نورو لاميلونو د توضح څخه د موضوع د طوالت د مخنيوي په نيت تيرېږو او يوازي د دريم لاميل په اړه د يو شمير لرغونپوهانو د نظرياتو په يادونه بسنه کوو .

په تاريخي متونو او د لرغونپوهانو په څيرنو کي په ډاگه سوې چې د هند په بودايي برخو کي د بودا تمثيل او يا د هغه د څيري د ښودلو لپاره په عبادت ځايونو ( ستوپو )کي د ليتوس گل او يا د ونو د بلگونو رسامي او نقاشي معمول وه ، او په يوشمير هندي ستوپو کي د بودا د تمثيل په نيت د يوې پښې ، لاس ، او يا څپلۍ ( پايزار ) علامې او نښانې کارولې چې په دي ترتيب د بودا حضور وښئي . خو گندهارايانو د لومړي ځل لپاره د بودا مجسمه جوړه او هغه يې په ستوپو کي ودروله . د فرانسوي لرغونپوه مسيو فوشه په قول د بودا مجسمه د لومړي ځل لپاره په گندهاراکي جوړه شول ، چې د لويديځ ( يونان ) تاثيرات پکښي زيات دي ؛ دا فرانسوي لرغونپوهانو ( HAKEN او هاکن ( ( ROULAND رولاند ( ( TARN نظريه د ټرن ( په 1930 ميلادي کال د ( SHMET ALD له خوا تائيد او ومنل سوه الماني لرغونپوه شميت ( دي نظريي ملاتړ وکړ چې د بودا لومړئ مجسمه گندهارايانو په وسيله جوړه سويده ،او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانديز يې هم ورسره مل کړ چې دا ګندهاراييې هنرمند هغه څوک دئ چې په مجسمه جوړولو کې يې د يوناني مجسمه جوړونکو څخه زدکړه کړيده . يوشمير افغاني لرغونپوهان اوله هغې جملې علامه حبيبي ، شاهي باې مستمندي ، احمد علي کهزاد هم د دې نظريې ملاتړ کړئ او تر څنګ يې دهم هاغه ګندهاراييې هنر مند عقيدتي لورئ هم په ګوته کړيدئ .
لنډه داچې په هډه کې د علمي سپړنو کار د 1923 ميلادي کال را وروسته پيل او په بيلا بيلو پړاونو کې د بيلا بيلو کورنيو او بهرنيو لرغونپوهانو په وسيله تر 1979 ميلادي کال پورې يې دوام وموند . د دې سپړنو له لارې په لاس راغلي اثار په منظم ډول د افغانستان ملي موزيم ته وه ليږل شوه ، چې تر 1991 ميلادي کال پورې دافغانستان ملي موزيم د مانۍ په دوهم پوړ کې د ارزښتمنو ننداريزو کوټو څخه يوه کوټه د هډې ننداړتون په نوم پرانيستې ساتل سوې وه ، له بده مرغه د تنظيمي جګړو او پر کابل کې د برهان الدين رباني او احمدشاه مسعود د واکمنۍ پر مهال د افغانستان ملي موزيم چور او تاراج شو چې په ترڅ کې د هډې هغه لرغوني اثار چې زموږ د هيواد د تاريخي برم نښانې او د وياړ بيلګې وې ، د وخت واکمنو پر بهرنيانو وپلورل .

## اريايي ژبه

آريايي ژبه: لرغونې آريايي ژبه نن ورځ وجود نه لري، خو په عصري ژبو کې يې ډېرې کلمې په په نوم هم يادېږي. لکه بېلابېلو بڼو او ماناوو سره شته. لرغونې آريايي ژبه چې د اندو-اروپايي ژبې ځنګه چې آريانا په لوېديځ او سويلي برخو ووېشل شو، نو د دوی ژبې هم په بېلابېلو سيمو کې توپير وموند. اوس د دې ژبو بڼه خورا توپير لري، مګر د هغې د ورته کلمو څخه دا اټکل کېدی شي چې دا ژبې له يوې ژبې څخه راوتي دي. د آريايي ژبې يو څو کليمې د خپلو ماناوو سره لېست شوي دي، له دې څخه دا اټکل کېدی شي چې د دې ژبو اصل څه دي.

| انګليسي | روسي | جرمني | يوناني | لاتين | فارسي | سانسکريټ | اردو | پښتو |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مدر | مټ | مُتر | ميتير | ماتير | مادر | ماتا | ماں | مور |
| فادر | لاره | فاټر | پوټيټر | پاتير | پدر | پتر | باپ | پلار |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| برودر | برات | بروډر | فراتر | فراتیر | برادر | بهراتر | بهائی | ورور |

ځيني ماهرين په دې باور دي چې د آريايي ژبې يو کوچنی رسم الخط کشف شوی دی. دا يوه وصيت دی
چې د هيتي پاچا مستاني، ميتر او ورنا خدايانو ته اشاره کوي. دا ژبه نه هند-آريايي ده او نه ايراني،
بلکې د دواړو سرچينه آريايي وه. دا سند په پنځلسمه پېړۍ کې ليکل شوی و. ګريسون وايي
له مسيح څخه دوه نيم زره کاله مخکې د ايران په شمال لوېديځ کې د ميډيا په سيمه کې چې ارياي‌ان
ته مهاجر شول او ژبه يې له اوسېدل. بيا څو پېړۍ وروسته يو شمېر خلک له هغه ځايه ولاړل او هند
لرغوني آريايي څخه هندو آريايي ته او هغه کسان چې په ايران کې پاتې شول خپله ژبه يې
ژبې دومره سره بدله کړه. لرغوني آريايان د لرغوني هند-اروپايي آريايي او سنسکرت په ايراني
ورته دي چې داسې ښکاري چې دواړه ژبې يو وخت د يوې ګډې ژبې لهجې وې. د دې ژبې اصلي بڼه
ژبپوهانو ته په مستقيم ډول نه ده مالومه، په دې حالت کې د دوی پوهه يوازې لنډه ده. کوم چې د
دواړو ژبو د ورته والي پر بنسټ ولاړ دي. د آريايي ژبې د دې مشتق جوړښت ځانګړتياوې په لاندې
ډول وې. (1) په لرغوني اندو-اروپايي ژبه کې د أ، آ، آی، 1، او مختلف توري درلودل. مګر دا ټول،
توري په ساده ډول په سنسکرت کې 'آ'، 'أ' شول. د دې تورو برعکس د اروپا په ډېرو ژبو کې د پام
وړ دی. د مثال په ډول

الفبا د اندو اروپايي يوناني سنسکريت اوېستا اردو او پښتو کې

اوه سيپتوم هيپت سپت هسپت سات اووه

کې، بې رنګه "ا" چې په ډېر کمزوري او ناڅرګند ډول تلفظ په آريايي ژبه کې، په اندو-اروپايي
بدل شو. د مثال په ډول "اکاوه، په "

پښتو اردو اوستا لرغونی پاړسي سنسکرت يوناني اندو-اروپايي

د پاتر پتير پتا پتار پت باپ او پلار

په دې کې د (الف) او (س) له تورو وروسته په (ش) بدل شو. د مثال په ډول

: د لاتيني زوړ سنسکرت اوستا : پنسو( زه ماتوم) پنشبتي(هغه ماتوي) پنشتو (هغه ماتوي) (4)
'أُ'وروسته د اندو-اروپايي وروستی 'س' په 'ح' بدل شو. (دغه 'ه' په سنسکرت کې 'وسرګا' تنفس
بلل کېده.) چې په زاړه اندو - آريايي کې پاتې شو، مګر په ايراني کې حذف شو او د کلمې وروستی
ايراني په "ا" يا "او" بدل شو. د مثال په ډول

اندو-اروپايي يوناني سنسکرت اوستا

مونيسن (په زړه کې) مينيوس (جوش) مسخ (ذهن، زړه) مانو (ذهن، زړه)

د کلمې په پای کې له 'ن' وروسته 'ت' حذف شوی. د مثال په ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اندو-اروپايي سنسکريت اوستا

بهرګنيتا بی رهن برزد

(۶) هند-اروپايي 'دهـ × ت' په 'ز + د' بدل شو چې په سنسکرت کې ساتل شوی و، خو په زاړه اندو-آريايي ژبه کې خپل لومړی جز 'ز' په بشپړ ډول له لاسه ورکړ. د مثال په ډول

د هند-اروپايي سنسکرت اوستا

م. ن. دهـ تا' (توجه) 'ميدها' (ذهن) 'مزدا' (ياد)

(۷) په اندو-اروپايي کې د ستر جمع نښه "اوم" وه. په آريايي ژبه کې د اوم توری د هغو کلمو وروسته نوم شو چې په پای کې توري لري. د مثال په توګه: سنسکرت اوستا اردو: 'ګيري تِرام' ګيري تِيتِ غرونه (8) په اندو-اروپايي ژبو کې د غير فعال فعل نښه نه وه. خو په آريايي ژبه کې له (ي) څخه بې ځايه ماده جوړه شوه چې په دواړو ژبو کې پاتې شوه. د مثال په توګه: سنسکرت اوستا اردو

ک. ر. ي. او 'کرِ يي اتِ' ترسره کيږي

دې ژبې د صفتونو په جوړولو کې د اوه، اويا، اتيا او نهه ويشتمه کلمه کارولې، چې په سنسکرت کې پاتې شوه خو په ايراني کې په "تی" بدله شوه. د مثال په ډول

'شست يخ' 'خ. ش. وشيتم' سره

'نوات يخ' 'نو عاتم' نهه

(۱۰) په نحوي ترکيب کې په دې ژبه کې خارجي حالت د علت په معنا، وروستنی حالت په اضافي معنا، محلي حالت او اضافي حالت د مطلق حالت په معنا کارول کيږي. ځکه چې دا کارول په سنسکرت او اوستا دواړو کې موندل کيږي.

سنسکرت اوستا،

د انساني حالت په مفهوم کې، 'تسای ګراهيم (د دې ښځې کور) 'اه رای يسينا' (د خدای د ستاينې سندرې)

پهٔ احترام...

## ترتيب کوونکي او راټولوونکی: استاد امجد «فقيرزی»

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**